هفته نامه

دجهاد هنداره

مـراة الجـهـاد

لومړي کال ، ٤٧ گڼه چهارشنبه ، د ۱۳۷۰ هـ ش کال داسد (۱٦)

PROPERTY OF ACKU

دکابل - جلال اباد پر لویه لاره دمجاهدینو درانه عملیات

(۷) مخ

مجاهدینو په پکتیا کې یوه هلیکوپټر الوتکه راوغورځوله

پکتیا :
دپکتیا ولایت دجهادي سنگرونو څخه دجهاد هنداري خبریال خبرراکوي چې مجاهدینو دزمري دمیاشتې په ١٤ مه نیټه دسهار په لس نیمو بجو هغه هلیکوپټرالوتکه راوغورځوله چې په زرمت کې یې دمجاهدینو په سنگرونو بمباري کوله .
خبر زیاتوي چې دغه الوتکه محمد حسین نومي مجاهد ویشتلې اوڅخروار دپنجه پاي په سیمه کې راغورځیدلې ده.الوتکه کې سپاره کسان له الوتکې سره یوځاي داور په لمبو کې سوي دي.

دارگون په ازاده ولسوالی درژیم وحشیانه بمباری

میرانشاه - میډیا
په میرانشاه کی دمجاهدینو دیپری جبهې نمایندگی میډیا ته رپوټ ورکړ چی دکابل رژیم هلیکوپټر دیو هوایی برید په اثر د کلیوالو وکړو دسپرلیو دری موټرونه تیره هفته دپکتیکا دازاد ولایت د اورگون دلویی ولسوالی په سیمه کی په سخته بمباری کی تباه کړی شورلی یی غرونو ته په پناه اخیستلو بریالی شویدی .
رپوټ زیاتوی چی د رژیم الوتکو په گردیز باندی داحتمالی حملی لویری څخه دپکتیکاد ولایت بیلا بیلی لاری او دسرروضی په سیمه بمباری کړی چی په کی زیات مالی تاوان دسیمی وگړو ته رسیدلی ده په لاروکی ترافیك د ورځی لخوا حرکت نشی کولای او دسرّوضی سیمی عاموگړو خپلو جونگړو پریښودلواو د غرونو لمنو ته پناه وړلوته مجبورشوی . همدارنگه خبرځای په بمباری کی دیو ټپی مجاهد په حواله زیاته کړه چی درژیم الوتکو د گردیز په شاوخوا سټوکنړو ، سپرکی کنړو باندی د اسد په ۷ مه نیټه سخت گرنیتی بمونه غورځولی خو څه خاص زیان ندی رسیدلی .

په میدانښار کی د مجاهدینو بریدونه

میدانښار ، میډیا :
دوردگو اومیدان ولایت څخه میډیا ته رپوټ ورکړل شوی چی دمیدان ښار شاوخوا مجاهدینو ددغه ښار امنیتی کمربندی پوستو باندی یوه بریالی حمله وکړه چی په نتیجه کی درژیم دقواو ددرندی ماشینداریو سنگرویجاړ یوعراده ټانك اویو موټر داور لمبه ۹ تنه عسکر اوملیشه وژل شوی او ٥ تنه یی اسیر نیولی دي .
رپوټ زیاتوی پدغه پیښه کی دری مجاهد شهیدان او ٤ نور ټپیان شوی اوجگړه دوام لری .

نومیالی قوماندان الحاج محمد ابراهیم د«نصرت الجهاد »سره په مرکه کي:

اللّه (ج) دمجاهدینو ساتونکی اومرستندوي دی ، همغه ذات به زموږ اسلامي انقلاب بري ته رسوي

په دوهم مخ کي

۲۳ هندی پوځیان ووژل شول

سری نگر، داسد ۱۲ مه :
په نیول شوی جمواو کشمیر کی دآزادی غوښتونکو مجاهدینو اوبرغلگرو هندی پوځیانو ترمنځ دیولړسختو نښتو په ترڅ کی ۲۳ هندی پوځیان مړه او ٤٦ نور زخمیان شوی.
دغه نښتی هغه وخت وشوی چی دجمعی تړلمانځه وروسته دکشمیر ولسی خلکو دآزادی غوښتونکو مبارزینو سره دخپل ملاتړ اودهندی پوځونو دظلم اووحشت خلاف پر مظاهرو لاس پوری کړ.

په کندز کي دملیشه و یو کنډك اویوه پوسته مجاهدینو ته تسلیم شوی

کندز ، میډیا :
په پیښور کی یو جهادی خبر ځای میډیا ته رپوټ ورکړ چی دکندز ولایت دهوایی ډگر دڅارنی یو کنډك دټول پرسونل او ٥٤ میله درندی اوسپکی وسلی سره داسد په ٥ مه دزاخیلو مرکز مجاهدینو ته بی له جگړی داسلامی عفوی ارتباط له مخی تسلیم شوی دی ویل شوی چی دغه کنډك چی دخپل قوماندان په گډون مجاهدینو ته تسلیم شوی دسید کیان ملیشه و پوری تړلی وو .
همدارنگه خبرځای زیاتوی چی په ذکرشوی نیټه دکندز په جنوب ښاری برخه کی دقهوه خانی دملیشه و یوه پوسته دټولو پرسونل اووسلو سره بی جگړی مجاهدینو ته پناه وړی ده .
دغه شان دکندز نه دبل خبر له مخی مجاهدینو دکندز ښار په جنوب لویدیزه دکابل رژیم دچاردری ولسوالی یوه امنیتی پوسته داسد په ۲٥ مه نیټه فتح کړی اولس تنه ملیشه یی د۱۰ میلو کلاشینکوفونو یومیل گرینوف ، اویو میل راکټ سره ژوندی نیولی دی .

روس باید پرکیوبا باندی پوځی مرستی بندی کړی

«بش »
واشنگتن ، داسد ۱۲مه :
دامریکی دمتحده ایالتو جمهور رئیس «جورج بش » ویلی دی چی ده په مسکو کی له گرباچوف سره خپله په لیدنه کتنه کی هغه ته وویل چی که روس پر کیوبا باندی خپلی پوځی مرستی بندی کړی دامریکا اوروس اړیکی به لاښی شی .
جورج بش چی په سپینه مانی کی یی له خبریالانو سره خبری اتری کولی په ډاگه کړه چی دمنځنی ختیز په هکله دسولی دکنفرانس دراغوښتلو په اړه دواړو خواو ترمنځ دنظر پوره یووالی شته .

حملات مجاهدین درولایت هرات

نمایندگی میدیا درکویته به نقل ازپیام رادیویی قوماندان جنرال اسمعیل خان که از هرات مخابره شده است راپور داد که مجاهدین بتاریخ ۷ اسد بااستفاده از سلاح های ثقیله بالاي پایگاه دشمن درمنطقه پل بند ولسوالی زنده جان ولایت هرات عملیات نمودند که درنتیجه پایگاه مذکوربه آتش کشیده شده خسارات زیاد مالی به دشمن وارد گردید .
طبق یك خبر دیگر مجاهدین بتاریخ ٦ اسد بالای دوقرارگاه مستحکم دشمن واقع درمناطق کوه چهل ستون وقلعه کافر که درقسمت جنوبی ولسوالی زنده جان قرار دارد حمله نمودند که دراثر ان هردو قرارگاه فتح ، تعدادی ازعساکر هلاك ویا زخمی گردیده ومجاهدین یك اندازه اسلحه ومهمات ومواد لوژستیکی رابه غنیمت گرفتند .
همچنان طبق یك خبر دیگر میدیا مجاهدین هرات بتاریخ ٤ اسد ضمن اجرای عملیات چریکی پانزده تن از افراد دشمن را هلاك ودوواسطه سنگین نظامی را باراکبین ان ازبین برده اند .
خبر حاکیست که فعلا جنگ میان مجاهدین وقوای رژیم کابل درمنطقه پی رباط زنده جان به شدت ادامه دارد.

دچغچران اوقلات پښارونو باندی دمجاهدینو بریالی بریدونه

غور ، میډیا :
دغور دولایت له مرکز چغچرا ن څخه میډیا ته رپوټ ورکړل شوی چی مجاهدینو په یوه تعرضی برید کی دغور ولایت ددولت یار په سیمه کی درژیم دقواو څخه ۹ تنه عسکراوملیشه وژلی اویو شمیر نور یی ټپیان کړی دي .
رپوټ وایی چی مجاهدینو په همدی نیټه دنوموړی ولایت په یو پوځی قرارگاه باندی په یو بل برید کی درژیم ٤ تنه پلویان وژلی او ۱۰ تنه نور یی دوسلوسره ژوندی نیولی دي .
دغه راز دزابل ولایت څخه دیو رسیدلی رپوټ له مخی مجاهدینو داسد دمیاشتی په ٥ مه نیټه دزابل ولایت دمرکز شاوخوا درژیم دقواو څخه په یو تعرضی برید کی ٥ تنه عسکراو ۲ تنه منصبداران دوسلو سره ژوندی نیولی دي .

درژیم پر پوځی قطار دمجاهدینو برید

سمنگان :
دقوماندانانو شورا سیاسی دفتر دسمنگانو دولایت دمجاهدینو په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دکابل رژیم پر هغه اکمالاتی قطار باندی چی دحیرتان دبندر څخه د تاشقرغان تنگی ته رسیدلی و، یوه ناڅاپی حمله وکړه چی په نتیجه کی دقطار څخه دوه عرادی ټانکونه او په مهماتو بار اوولاړی او دوه دتیلو ټانکرونه دراکټونو په ډزو د سورلیو سره داور لمبه کړیدي .
دخبر مطابق نوموړی قطار غوښتل چی د سمنگانو ولایت شاوخوا قرارگاووته نظامی مهمات ورسوی خو په نوموړی برید سره دزیات مالی تاوان په کاللو دماتی سره مخامخ کړی شو.

سرمقالـه

دجهاد په پوځي ډگر کې دنوي جذبي اوتحرك پیلامه - ادامه

دبیلابیلو عواملو له مخی دجهاد په سیاسی ډگر کې رامنځ ته شوی رکود همیشه دجهاد په پوځی ډگر ناوړه او نامطلوب اثرات غورځولي،دسنگر په مجاهدینو کې یې په یوه اوبله بڼه دنهیلی مایوسی فضا رامنځ ته کړی اودیو نسبی سکوت اورکود حالت یې پری تحمیل کړی دی .
کله چې دمجاهدینو عبوری حکومت دجهادی قیادتونو ترمنځ دراولاړو شویو خپل منځی اختلافاتو،دعدم اعتماد اوهمکاری دنشتوالی په نتیجه کې له یوې ورځې نه بلی ورځی ته مخ په کمزوری کیدو شو له دې سره زموږ دمجاهد ملت اومؤمنو وگړو هیلی اوامیدونه هم په تدریج سره نیم ژواندی اونیمه خواشول اودکټلی جنگ دبایلنی ویره رامنځ ته شوه ، دجهاد په سیاسی او پوځی ډگر کې دغی نامطلوبی وضعی په څرگنده توگه له یوی خوا دروسانو دمزدور رژیم دپایښت شپی او ورځی اوږدلی اوله بلی خوایې په جهادی سنگرونو کې دقوماندانانو اومجاهدینو ترمنځ واټن راپیداکاوه اوخپل منځی شخړو اویو دبل په مقابل کې دسنگرنیولو

۸ مخ

سه دیپوی مهمات نظامی دشمن درکندهار حریق گردید

کندهار ، میدیا :
نمایندگی میدیا ازکویته خبرداد ، مجاهدین بتاریخ ٥ اسد قول اردوی کندهار درمرکز شهر راهدف سلاحهای ثقیله قراردادند .
که درنتیجه این عملیات سه دیپوی بزرگ مهمات نظامی طعمه حریق گردیده ٦ صاحب منصب رژیم هلاك و ۳ تن دیگر زخمی شدند .
همچنان به نقل ازهمین منبع جنرال علومی والی وقوماندان قول اردوی کندهار به روسیه رفته است .
گرچه علت این سفر ظاهرامریضی خوانده شده اما گمان می رود که اخیراکندهار تحت ضربات شدید مجاهدین قرار گرفته وخطر سقوط ان بمیان امده است امکان دارد سفروی درارتباط همین موضوع باشد .

داسلامي کنفرانس دغړیو هیوادونو دبهرنیو چارو د وزیرانو غونډه پرانیستل شوه

استانبول ، داسد ۱۳ مه :
داسلامي کنفرانس دغړیو هیوادونو دبهرنیو چارو دوزیرانو غونډه دترکیې په پایتخت داستانبول په ښار کې پرانیستل شوه .
نړیوالو خبرگایونو رپوټ ورکړي چې ددې غونډې په ترڅ کې به داسلامي نړۍ دمهمو ربړو اومسایلو په هکله خبرې وشي ، اوپریکړې به صادرې کړي (۱۰،۸)مخ

موږ یوازې دالله (ج) دمرستې اونصرت له مخې جهاد کوو ، دهغه اودغه دمرستي کولو یانه کولو له اړخه زموږ موقف نشي بدلیدای . «الحاج حقاني »

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

دافغانستان دربړی دحل په رابطه نړیوالی هڅی اودمجاهدینو درانه عملیات

سید شهریار

که له یوی خوا په دی وروستیو شپو او ورځو کی دافغانستان له ګوټ ګوټ نه پردښمن دمجاهدینود درنو عملیاتو سوبواو بریو خبرونه رارسیږی ، نوله بلی خوا څخه دافغانستان دربړی دسیاسی اوسوله ایز حل په نامه یو لړ نوی بدلونونه ، تحرکات او بی نتیجی هڅی رامنځ ته شوی چی څوك یی په یوه خوا اوڅوك یی په بله خوا دخپلو اغراضو اومقاصدو لپاره راکاږی .

دغه بی نتیجی اوله اغراضو څخه ډکی هڅی پداسی حساس وخت کی پیل شوی چی مجاهدینو په ګڼو او یو مخیزو درنو عملیاتو سره دجهاد په نظامی ډګر کی ددښمن خوله ورماته کړی په هر ډګر کی یی راپرځولی اوله شرمیدلی ماتی سره یی مخامخ کړی دی .

ملحد رژیم چی دخپل شکست اثار له ورایه پخپلو سترګو وینی نو دخپل شکست اوماتی کسات له بی وزلواو تش لاسو بی ګناه مسلمانانو څخه دالوتکو دبمبارله لاری اخلی ترڅوخپله غوسه دکوچنیو ، تورسرواوبی زبانه ښارویو په مرګ او ژوبلولو سره سره کړی اوس چی دننګرهار په ولایت کی دمجاهدینو لخوا یو مخیزدرانه عملیات پیل شوی دی ، نو مزدور رژیم دننګرهار په ګردو اطرافی برخو وحشیانه اوشدیده بمباری پیل کړی چی په نتیجه کی یی یو شمیر بی ګناه مسلمانان چی پکی واړه اوزاړه شامل دی دشهادت لوړ مقام ته رسولی داخبره دیادولو وړده چی دمجاهدینو دمقاومت په نتیجه کی ددښمن یوه الوتکه هم داور لمبه شویده او نور هم دزیات ځانی او مالی تاوان سره مخامخ شویدی دننګرهار څخه پرته ملحد رژیم ته دهیواد په نورو زیاتو برخو کی هم دازادی دننګیالیو هغه برمیال غورځنګونه موجونه وهی دکومو په نتیجه کی چی دښمن له ډیرو سیمو نه دځان راغونډولو ته تیارشو .

درارسیدلو خبرونو له مخی دخوست دویارمنی فتحی څخه وروسته دوهمه لویه فتحه دتخار دولایت هغه پرتمینه سوبه وه چی ددښمن ملایی په ډیر کم وخت کی په نظامی ساحه کی په دوهم ځل ورماته کړه .

خبرونه زیاتوی چی دسروبی ، لوګر ، ګردیز اوپه داسی نورو سیمو کی دبریالیو عملیاتو سره سره دجلال اباد اوکابل په لویه لاره هم ددښمن تقریباً له شلو څخه زیاتی پوستی له منځه تللی اودښمن ته دسراومال ډیر زیات تاوان وراوړیدلی دی اولا ګړی په ګړی دنورو سوبو او فتحو خبرونه راروان دی.

اوس نو پداسی حساسو شیبو کی چی دمجاهدینو عملیات شپه او ورځ مخ په وړاندی روان دی دځینو عناصرو لخوا په دی نامه چی باید په افغانستان کی نوره وینه تویه نشی او یو سوله ایز حل رامنځته شی یوه خوا او بله خوا منډوهانه هلی ځلی پیل شوی حال داچی خبره په ډاګه ده چی ددغی ربړی یواځینی حل دروس لاس کینولی او مزدور رژیم له منځه وړل دی ترڅو هلته دافغانانو په خوښه او رضا سره یو اسلامی او له هرډول لاسوهنی څخه پاك دولت منځ ته راشی خو پر ځای ددی چی نړیوال او اسلامی

په اووم مخ

الله (ج) دمجاهدینو ساتونکي او مرستندوي دي ، همغه ذات به زموږ اسلامي انقلاب بري ته رسوي

مرکه کوونکي : سید عبدالله — ژباړن : ش ، طاهر

الحاج محمد ابراهیم د جهاد دسنګر وتو د اتل او نوماند قوماندان الحاج مولانا جلال الدین حقانی وروو دی . چی دخپل وروو عالمانه لارښوونی لاندی دوسله وال جهاد په مدرسه کی روزل شوی او پاللی شوی او بالاخره دمجاهدینو دیو تکړه قوماندان په توګه یی تبارز کړی دی . نوموړی په زیاتو جهادی عملیاتو کی په برخی اخیستلو او زیاتو سوبوبریو برسیر ه دخوست دستر ی او ویاړمنی فتحی په عملیاتو کی فعال رول دراود او دهغو مجاهدینو په ډله کی ږ چی دجګړی دعملیاتو دپیل تر پای یی له لوړی لیکی نه ددین او وطن په دښمنانو مرګونی ګوزارونه وکړل او ویاړلی کارنامی او ستری فتحی یی په برخه شوی

حاجی صاحب ابراهیم فعلاً دحضرت عمر فاروق (رض) دغنډ قوماندان دی څو ورځی دمخه یی پیښور ته تشریف راوړی ، دارډو نصرت الجهاد دمجلی مسوول له نوموړی سره مرکه کړی چی موږ یی پښتو ژباړ ه دجهاد هنداری لوستونکو ته وړاندی کوو .

« اداره »

پوښتنه :- حاجی صاحب د خوست دښاوخوا دسیمو د امنیت په باره کی که راته څه ووایی .

ځواب : - بسم الله الرحمن الرحیم خوست دټولو تنظیمو نو د مجاهدینو دګډو او یومخیز و عملیاتو په نتیجه کی فتحه شو چی اوس هم دغه اتحاد او اتفاق پرځای دی او دامنیت مسله یی تامین دہ . کوم مهمات او وسله چی موږ له دښمن څخه دغنیمت په ډول نیولی وه په خوندی ځایونو کی ساتل شویده چی اوس هم هلته پرته ده پدغو ځایو باندی دمجاهدینو څوکی دی اومجاهدین هروخت ددغو مهماتو دساتنی لپاره پیره ورکوی چی درنه وسله او مهمات به یی په دښمن باندی په عملیاتو کی وکاروه استعمالیږی او سپکه وسله په مجاهدینو غنیمت ویشل کیږی دټولو مجاهدینو په منځ کی اتفاق او اتحاد موجود دی او په منځ کی یی هیڅ کوم اختلاف وجود نلری .

پوښتنه :- ایااوس هم په خوست کی او یا دخوست په شاوخوا سیمو باندی دمزدور رژیم لخوا بمباری او دسکد توغندی ویشتل کیږی ؟

ځواب :- هو ! اوس هم د کابل لاسپوڅی او مزدور رژیم په خوست او دخوست په شاوخوا سیمو باندی بمباری کوی په اونی کی یو کرت یا دوه کرته خامخا دمجاهدینو په مرکزونو اوازادو سیمو باندی حملی کوی اودالوتکو بمباری خواوس تقریباً یوه عادی خبره ګرځیدلی دغه بمباری په کلیو او ښارونو باندی یو شان دوام لری .

پوښتنه : ایا په راتلونکی وخت کی په ګردیز ، غزنی

اویا په کوم بل لوی ښار باندی دعملیاتو پروګرام شته؟

اوپه اوسنی وخت کې الحاج مولوی صاحب حقانی څومره مجاهدین په یادوشویو سیمو باندی دحملی لپاره تیارکړیدی؟

ځواب هو ! مجاهدین په ګردیز ، غزنی اویو شمیر نورو سیمو باندی دیو مخیز اوګډو عملیاتو پروګرام لری چی پدی لړ کی تردیره حده پوری ښایسته ښه ډیر کار هم شویدی اوڅه کار پری لاروان دی اوداالله تعالی څخه امید لرو چی زموږ دغه پروګرام به په بری سره سرته ورسیږی انشاالله تعالی چی ددغو بریالیو عملیاتو وخت هم نږدی دی .

ترکومه حده پوری چی دحقانی صاحب دمجاهدینو په شمیر پوری اړه لری نو داخبره دیادولو وړده چی یواځی په ګردیز باندی دڅلور و خواوونه دحملی کولو لپاره حقانی صاحب لږ تر لږه ۱۷ - ۱۸ زره مجاهدین تیاراو اماده دی او موږ پدی لړکی دنورو مجاهدینو دروزلو تیارولو او چمتو کولو

پروګرام هم له ځانه سره لرو.

پوښتنه :- له افغانستان څخه دروسی قواوُ له وتلو سره سم په مجاهدینو باندی بهرنی مرستی دریدلی وی ایا اوس هم دغه کار دوام لری او که کومکونه دوباره پیل شویدی؟

ځواب :- کوم کومکونه چی دروسی قواود موجودګی په وخت کی کیدل اوس یی هغه حال نه دی پاتی .

لنډه داچی په اوسنیو وختو کی مجاهدینو ته څومره کومك پکار دی ورسره نه کیږی خوبیاهم یو څه ناڅه کومکونه ورسره داسلامی هیوادونو او خیریه مؤسسو له خوا کیږی .

خو ترکومه پوری چی په ګردیز ، غزنی او دکابل په څیر په لویو ښارو باندی دمجاهدینو د لویو او درنو عملیاتو پوری اړه لری نو داهر څه موږ په الله (ج) باندی دتوکل او دهمغه ذات د کومك او نصرت په امید کوو او کړی مو دی زموږ پوخ باور دی چی الله تعالی (ج) زموږ ملګری او نګهبان دی او همغه به پخپله زموږ له دغه پراو ه بریمن راوباسی .

پوښتنه :- فکر کیده چی دروان کال د سرطان او اسد په میاشتو کی خامخا دافغانستان دقوماندانانو سرتاسری شوری دریمه غونډه رابلل کیږی خو تراوسه پوری پدی باره کی څه ونشول که پدی باب څه ووایی نو مهربانی به مووی ؟

ځواب : - داپوښتنه دافغانستان په سرتاسری شوری کی د شاملو قوماندانانو پوری اړه لری زه پدی باره کی د څه ویلونه معذرت غواړم .

پوښتنه :- تیره میاشت په ګردیز باندی دحق دلاری دمجاهدینو اودمزدوررژیم دپوځیانو تر منځ دوه ورځی پرله پسی نښتی دوام درلوډ دمولانامنصورصاحب دجریدی په څرګندولو داسی ښودل کیده پدغه جنګ کی صرف دهمغه مجاهدین جنګیدل او نورومجاهدینو دجنګ څخه ډډه کړی وه ایا دارښتیادی که چیری داسی وی نو دقوماندانانو هغه ګډه غونډه او مشترك عملیات څه شول؟

ځواب :- موږ دګردو مجاهدینو جهادی کارنامو او دهغوی میړانی او جد و جهد ته دقدر په سترګو ګوروا وهغوی ته دالله تعالی څخه دنوروکامیابیو او سرلوړیو دعا غواړو پاتی شوه په ګردیز باندی په عملیاتو کی دمجاهدینو دشرکت خبره نو دغه نښته یواځی دمولاناصاحب په مجاهدینو پوری مربوط نه وه بلکې حقیقت دادی چی پدی نښته کی ګردو مجاهدینو دزړه داخلاصه برخه درلوده که حقیقت رابرسیره کړم نو ددښمن سره په دغه اوه ورځنی خونړۍ نښته کی زموږ دغونډو نومیړنیو مجاهدینو په ډیره میړانه سره دنورو فتوحاتو نه پرته دملحد رژیم یو هیلکوپتر چی پکی (١٤) تنه عمله ناسته وه داورلمبه کړ دری توپونه څلور تانکونه او اته لاری هم له منځه یوړل شوی اونور ډیر زیات جنګی مهمات هم زموږ لاس ته راغلل پدغه نښته کی زموږ دغونډ څلورننګیالی مجاهدین هم دشهادت لوړ مقام ته ورسیدل او نور ١٤ تنه مجاهدین سخت ټپیان شول اوپه مقابل کی یی ددښمن ۸۰ تنه پوځیان

په اووم مخ

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکې فعالیتونه

داکسا، کام ، خاد ، واد - تشکیلات ، فعالیتونه اوجنایات

۱۸مه برخه

عبدالوکیل

سرته رسوي دغه عمومي ریاست په خپل تشکیل کې خاص وسله وال کنډکونه هم لري همدارنګه دضرورت په وخت کې دمجاهدینو په فورم او شکل جعلي ګروپونه جوړوي اودمجاهدینو په واسطه آزادو شویو منطقوکې دمجاهدینو پرضد اودمجاهدینو دبدنامولو په خاطر ډول ډول کارونه سرته رسوي .

٦– شپږم ریاست چې دتعقیب په نوم هم یادیږي درژیم ضد مشکوکو اویا کشف شویواشخاصو تعقیب په غاړه لري ددوی تعقیب په ډول ډول طریقو اووسایلو صورت نیسي لکه ترانسپورتي وسایل مخابراتي ، دجاسوسی مخصوصو آلاتو اونورو.دوی په انفرادي ګروپي اوعمومي ډول سره خپل هدف ترتعقیب لاندي نیسي .

٧– اووم ریاست په ټولوفرهنګي اوکلتوري مؤسسو کې داجنټوري فعالیتونه سرته رسوي لکه ښوونځی ، پوهنتونونه ، راډیوتلویزیون ، مطبوعات اودرژیم ضد ګوندونه اوسازمانونه ، روحانیون ، جماعتونه اوزیارتونه اوهمدارنګه دترور ضد څانګې لري ، دغه ریاست دمزدور رژیم په مختلفو ضد قواؤ کې داجنټوری کړه وړه په غاړه لري.

دکابل ښارپه اصطلاح ټول ملاامامانو اودجماعتونواوزیارتونو مستخدمینو اجنټوری چارې داووم ریاست په لومړي مدیریت (دروحانیونو په مدیریت) پورې تړلي دي دولایاتو دښارګوټو په اصطلاح ملاامامانو اودجماعتونو او زیارتونو مستخدمین په ولایاتو کې داووم مدیریت په لومړي آمریت (دروحانیونو آمریت) پورې تړلي دي .

دکابل مزدور رژیم تر تسلط لاندې منطقو کې ټول په اصطلاح ملاامامان ، واعظین ، دجماعتونو ، زیارتونو اونورو مذهبي ځایونو مستخدمین اجنټوري دوسیې لري اودواد همکاران دي دنومړي دروحانیونو دمدیریت آمریتونه دشیعه اوسني مذهبونو اوهندوانو لپاره ځانګړي څانګې لري اودهمدې لارې هم دهغوی په منځ کې داجنټوری چارې سرته رسوي .

کی ، جی ، بی دهمدغه ریاست له لارې هغه دسیاسي ګوندونو او سازمانونو په نوم چې په اصطلاح دنجیب څو ګوندیز سیستم کې یې برخه اخیستي ده ، جوړکړل اوپایې هغه کوچنی سیاسي حلقي اواشخاص چې دروسانو سره یې دمقاومت ، تکر او جهاد شهامت نه درلود ، عاطل او باطل پاتې شوي وه راټول اودګوښیو سازمانونو په نوم یې اعلان کړل اواوس په اصطلاح دنجیب دڅو ګوندیز سیستم دګډون کوونکو له ډلې څخه شمیرل کیږي .

دنجیب په واسطه سره په اصطلاح اعلان شوی څوګوندیز سیستم کې دشاملو ګوندونو اوسازمانونو مالی مصارف دواد په سلسله ترسره کیږي داهم دتوجه وړده چې په دغو مصارفو کې چندان مخفي کاري صورت نه نیسي بلکې هغه وخت چې کوم په اصطلاح سازمان یا ګوند په نوموړي څو ګوندیز سیستم کې شامل شي نو دنوموړي ګوند یا سازمان مهمو غړو ته دموټرو ، کورونو ، فرش اوظرف میاشتنی معاش اودسازمان یا ګوند لپاره ټول مالي مصارف ورکول کیږي اوجهان ته دغه د کی ، جی ، بی په دام کې بندې شوي چوغکې دڅوګوندیز سیستم اودډموکراسی اوآزادی دموجودیت په نوم ورښکاره کوي .

٩– نهم ریاست چې دفیلډ ګیری په نوم هم یادیږي دولایاتو دښارګوټواو کابل ترمنځ او دکابل په ښار کې دواد اړونده پُستې وړلو او راوړلو وظیفې سرته رسوي .

لسم ریاست : چې دتحقیق په نوم یې هم یادوي دسیاسي متهمینو اوبندیانو څخه دتحقیق دندې سرته رسوي ددغه ریاست کارکوونکي دسیاسي متهمینو داقرار پخاطردډول ډول اوشدیدو روحي او جسمي شکنجو څخه کار اخلي تردې چې یو شمیر متهمین دجسمي شکنجو په اساس په شهادت رسیږي اویو شمیر دجسمي او روحي شکنجو په وجه نورمال حالت له لاسه ورکوي اوپه عصبي او روحي ناروغیو یې اخته کوي.

یوولسم ریاست : دغه ریاست په داخل اوبهر کې داجنټوری دندې سرته رسوي .

دوولسم ریاست : دافغانستان په قومونواوقبایلو ښارونواوهمدارنګه دهیواد څخه بهر خصوصاً دپاکستان په سرحدي منطقواو ښارونو کې داجنټوری تخریب دمجاهدینو ضد تبلیغ اوترور چارې سرته رسوي .

کادراوپرسونل (پیژند):دغه ریاست دواد کارکوونکو تشکیل ځای پرځای کول تغیر اوتبدیل ، درتبو او درجو تعیین ، روس ته داستخباراتي زده کړې پخاطر دواد کارمندانو دلیږلو چارې سرته رسوي.

تعلیمي مرکزونه : تعلیمي مرکزونه دواد استخباراتي نظامي اوسیاسي ښوونې اوروزنې هغه مرکزونه دي چې دواد زده کوونکي دکابل مزدور رژیم اوروسانو ته دوفاداری په روحیه روزي اوپه نظامي‌اومسلکي (اجنټوري) برخو کې یې ترښوونې او روزنې لاندې نیسي دکابل تعلیمي مرکز او دنظامي تعلیمي مرکزونو په نوم دوه هغه ریاستونه دي چې دواد کارمندان ترمسلکي اونظامي ښوونې‌اوروزنې لاندې نیسي اودانسان وژنې تخریب ترور ، پروپاګندلارې چارې ورته پکې ښودل کیږي.

دلوژستیك ریاست :– دغه ریاست دواد لوژستیکي چارې سرته رسوي.

دمالي عمومي مدیریت :– نوموړی مدیریت هم لکه چې له نامه څخه یې څرګندیږي دواد دکارمندانو دتنخواه ګانو اونورو مالي چارو په اړوند فعالیت کوي .

دسیاسي امورو عمومي ریاست :– دغه ریاست چې دواد دمعاونینو له جملې څخه دی دواد په منسوبینو کې دکمونستي نظریې تبلیغ اوترویج ، روس اوکابل رژیم ته دهغوی دوفاداری په روحیه د ښوونې او روزنې فعالیتونه سرته رسوي اوپه عین وخت کې دواد ګوندي سازمانونوتنظیم اودپرسونل

اړونده چارو کې کمك اوهمکاري کوي .

دولایتونو ریاستونه :-دټولو هغو ولایاتو په مرکزونو کې کوم چې دکابل رژیم ترتسلط لاندې دي دواد‌ریاستونه وجود لري دغه ریاستونه دنوموړو ټولوریاستونو یو یومدیریت پخپل تشکیل کې لري اوهر یو مدیریت پخپل چوکاټ کې په ترتیب سره آمریتونه اوڅانګې لري نوموړي ریاستونه په داخل اوبهر کې داجنټوري ، تخریب ،ترور، دمجاهدینو ضد تبلیغ اودرژیم ضد فعالیتونو دکشف خنثی اوله منځه وړلو دندې سرته رسوي .

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

دنیول شویو روسي عسکرو خاطرې:

د مسلم ژباړه

په تیرېسي :

په ننګرهار کې دری تنو ځوانو روسی پوځیانو یوه خبری اژانس سره په مرکه کې په روسانه الفاظو روسیی ته دبیرته تګ څخه انکار وکړ، ۱۹ کلن « پولی تنکوف»۲۰ کلن «سرګی الیګزیندریویچ» او ۲۱ کلن «ولادی سلاواناطولی نی » چې په بیلا بیلو سیمو کی دمولوی یونس خالص له مجاهدینو سره یو ځای شوی ، دخپل راتلونکی پ باب وایی موږ له روسیی سره خپلی اړیکی شکولی ، که هغوی هر چیرته واوسیږی خو وایی چی روسیی ته بیرته تګ یی له تصورڅخه وتلی خبره ده هغوی دخپل راتلونکی ارادی په باب وایی موږ روسیی ته په تګ سره ځان په ابدی زندان اویامرګ محکومول نه غواړو ، هغوی وایی افغانستان کې جنګیدونکو پوځیانو ته امر دی چی که دمجاهدینو تر محاصری لاندی راغلل ځانونه ووژنی ، جنګی بندیان ونګرځی ځکه چې جرم یی دبخښلو وړنه دی ، هغوی په خپله خوښه دروسی پوځ څخه تښتیدلی اومجاهدینو سره یوځای شوی ، ددری واړو دتیښتی کیسی سره لولو .

پولی تنکوف: ۱۹ کلن «پولی تنکوف وادیم الیګر یندر یویچ » دروسیی دمرکزی جمهوریت د«پرمی » ښار اوسیدونکی دی ، هغه ۱۸ کلن ؤ چی ښوونځی څخه په جبری توګه عسکری ته وغوښتل شو ، هغه په دې وخت کی دیولسم ټولګی زده کونکی ؤ ، تراوو میاشتنیو نظامی زده کړو وروسته افغانستان ته ولیږل شو، هغه چې دکومی ډلی سره ولیږل شو په هغی کې (۳۱۰) تنه ځوانان شامل وو، هغه ته دجلال اباد په هوایی ډګرکی دنده ورسپارل شوه ، په عملیاتو کی دبرخی اخیستنی موقع په لاس ورنغله ، په دی خاطر چی هغه نه غوښتل په دی جګړه کی ګډون وکړي ، دروسیی پوځ سره تریوی اونی تیرولو وروسته هغه دنورو ۲۰ تنو سره یوځای د«ثمرخیلو » سیمی ته دمجاهدینو پرخلاف جګړی ته ولیږل شو هلته موقع په لاس ورغله وتښتید اومجاهدینو سره یوځای شو اوپه دی توګه یی دخپل ضمیر اوارادی په خلاف جنګ کې دګډون څخه نجات ومونډ .

په افغانستان کې دروسی پوځ سره دتیرو کړو ورځو په باب « پولی تینکوف » وایی :

دروسی پوځیانو مورال ډیر ټیټ ؤ ، دهغی وجه دمجاهدینو ورځ په ورځ قوی کیدل اودروسی پوځیانو هغه په زړګونو مړو جسدونه دی چې دوی روسی ته دتګ په وخت ګوری .

«پولی تینکوف » په خپله لیدلی چی دجلال اباد په هوایی ډګر کی یوی الوتکی ته په سلګونو مړی وراچول کیدل . په روسیی پوځیانو کی دمرګ ویری دهغوی ویره مورال اوګډودی زیاته کړی په دې خاطر دئ چې هغوی چرس اونور نشه‌یمواد‌زیات استعمالوي «پولی تینکوف » وایی :

په اوسنیو وختونو کی روسانو ته دمجاهدینو مقابله کول ګران کار دی . . .

یوسف سرګی :

دوهم پوځی «یوسف سرګی الیګزیندر یویچ » دی دهغه عمر ۲۰ کاله دی اود«والګاګراد» اوسیدونکی دی په ۱۹۸۳ کال کی هغه دیولسم ټولګی زده کونکی و چی دښه صحت له وجی پوځ کی داخل کړای شو ، ترڅلور میاشتو نظامی روزنو وروسته هغه افغانستان ته ولیږل شو دراتګ په وخت هغه ته معلومه نه وه چی منز ل یی کوم ځای دی ، دکابل په هوایی ډګرکی ورته معلومه شوه چی افغانستان ته رارسیدلی هغه ته دخپلو ملګرو سره یوځای په «بګرام» کې دنده ورسپارل شوه ، په دې ځای کی دپوځیانو شمیر (۳۰۰۰) تنو څخه زیات و یوه ورځ چې هغه ته د «بګرام » په پل کې وظیفه ورسپارل شوی وه ، دنورو پوځیانو یی ځان پټ کړ اوپه کړو وړو لارو یی ځان یوه کلی ته راورساوه ، هلته دمجاهدینو یوه وړه ډله موجوده وه «سرګی» خپله وسله هغوی ته وسپارله دهغوی سره یوځای شو او وروستی سلګی یی دروسانو پرضد جنګیدوته چمتووالی وښود .

سرګی وایی : هغه ته دمجاهدینو پر ضد څو عملیاتو کې دګډون موقع په لاس ورغلی ، هر ځل روسان له ماتی سره مخامخ شوی اوځان سره یی دروسانو

په اووم مخ

جهادي ادب

ماڼرولي دي دتور اوسپين اورنگ برجلي
دزې اوخيل دلراوبردڅنگ په څنگ برجلي
ماته تقوی معياردحق دی ولسونو منځ کي
هم دوحشت اوبربريت جگړي اوجنگ برجلي

ولي نه تيريږي ؟

امان الله نصرت

ته له چوکۍ اوله قدرت نه ولي نه تيريږي
دځانځانۍ له ستراٰفت نه ولي نه تيريږي
ټول مؤمنان دي سره ورونه ديوبئ گلونه
له اختلاف اوکدورت نه ولي نه تيريږي
که سره يو شو نو درشل دآزادۍ ته رسو
له دي بې ځايه خصومت نه ولي نه تيريږي
ته په رښتيا که ځان ته وايي دنبيانو وارث
لاړشه سنگر ته مال دولت نه ولي نه تيريږي
چوکۍ يوه ده خوبريتونه ورته شل تاووي
داقتدار له رقابت نه ولي نه تيريږي
ځان که اميرالمؤمنين گڼي جهاد ته ورشه
له دي ماڼۍ عيش اوعشرت نه ولي نه تيريږي
داسلامي حريم ساتنه سربښندنه غواړي
بلادي واخلم له راحت نه ولي نه تيريږي
دوطن خاوري دي څاري دقدمونو لاړي
پردي وطن کي له حکومت نه ولي نه تيريږي

ادبي اصطلاحات

سيد محی الدين «هاشمي»

ادب :

دادب لغوی معنی پوهه،ځيرکی،فرهنگ ، هنر او حسن معاشرت ده .

ادب په پخوانۍ اصطلاح هغه پوهنه او علم دی چی په هغی کی صرف ، نحوه ، لغت ،معانی ، بيان ، بديع ، عروض قافيه ، دليك او كتابت قوانين ، دلوستنی او قرائت قوانين ، انشأتاريخ او ...شامل دی . په اوسنی اصطلاح ادب هغه علم او پوهنه ده چی انسان په ويناکی له خطاڅخه ژغوري .ځينی ادب څيړونکی يی داسی تعريفوی : هر هغه ممتاز ه اوغوره وينا چی شفاهی وی که تحريری،نظم وی که نثر ، خو چی هنری ارزښت ولری ادب گڼل کيږی .

په دغه تعريف کی راغلی اصطلا حات (نظم ، نثر ، هنر او ...) به په وروسته بحثونو کی په لنډه توگه درو پيژنو .

ادبپوهنه :

ادبپوهنه هغه علم او پوهه ده چی دادب او ادبياتو په باب څيړنه کوی .

په دری څانگوويشل کيږی : ۱- ادبی تيوری ۲- دادبياتو تاريخ ۳- ادبی نقد،اوس هر يو په لنډه توگه درپيژنو ؛

۱- ادبی تيوری :- دادبپوهنی هغه څانگه ده چی دادب ځانگړنې او دپرمختيا قوانين ترڅيړنی لاندی نيسی او دادبی اثارو دارزښت په باب عام قوانين وړاندې کوی .

په دغه څانگه کی دټولنپوهنی دعلمی قوانينونه په استفادی سره پرادبی مسايلو بحث او څيړنه کوی . دبيلگی په توگه دادب او ټولنی ترمنځ اړيکو څيړنه ، دادبياتو درامنځ ته کيدو عوامل ، دادبی مکتبونو ، ميتودونؤسبکونو ، دادبياتو دشکل ، مضمون ، سوژی ، تخيل ، تصور... تر بحث او څيړنی لاندی نيسی .

په پنځم مخ

د محنت تنباکي

حميد مومند

تل داوښکو په اوبو کې لره ترمخ
په دغو اوبوکې ليدشي ددلبرمخ
ديوسفٌ دمخ ديوه شوه هله بله
چې يې سور کړ په څپيړو برادرمخ
له ميوې دسيوري ونه شاپه شا وي
څوبې نه کامخامخ سره دنمر مخ
وهر چاته به سرخرويه لکه گل شي
که په وينو سره وينځي دځيگر مخ
سياه رويي به دې دطمعې لاړه نه شي
څو پرې نه وينځي دصبر په کو ثر مخ
صابران داحتياج له ډيره شرمه
آئينې ته نيوی نه شي برابر مخ
چې تنباکې دمحنت لري په لاس کې
هغه نه گوري په ځله دگوهر مخ
عاقلانو لره عيب هنرنمايي ده
آئينه تسوره تبی کادجوهر مخ
د«حميد» بولهوسي ناکسي نه ده
لټوي په خپله ورکه پسې هر مخ

پټه خزانه

«نوي سبك اونوي ادب» له كتاب څخه

مرحوم گل پاچاالفت

په کورکی يی غله نه وه جامی يی ډيری زړی وی ، پورچانه ورکاوه مزلوری نه وه ، حيران و ، چه څه وکړی ؟ پس له ډيرو انديښنو له کوره ووت او شپه ډيره تياره وه.

ناداری ډيربدشی دی دلوږی طاقت څوك نلری څکه په پردی کاله ننووت او غل وخوت .څومره مال يی چه راوړلی شو هغه يی خپل كور ته راووړ مگر ډيره ويره او ډيره سودا هم ورسره وه.

وايی چه دغله په غره کی ځای نه وی نو په کاله کی به يی څه حال وی ؟ دی پوهيده چه سباته خلك دده كور لټوی كه دغلا مال ترينه ووځی څوکاله به په جيلونو کی پروت وی .

ده بله چاره ونه ليده دکوټی په کنج کې يې دځمکی په کينلو شروع وکړه چی دغلا مال خوندی کړی .

يوساعت وروسته له خاورو لاندی يوداسی کنج راښکاره شو چی دسرو اوسپينو کمی نه ؤاوزور ورتولت پکی پروت و.

کله چی داپټه خزانه راښکاره شوه غل پوه شو چی په ټول کلی کی ده غوندی بل بډای نه ؤ اوده غوندی دذلت شپی هم چانه دی تيری کړی .

ده دخزانی دپاسه په لوږه شپی تيرولی .

دده په کور کی ډير څه موجود ؤ مگردی ناخبره ؤ.

دی نه پوهيده چی زه خوارنه يم اوډير مال اودولت زما په کور کی پروت دی .

دده ناداری په حقيقت کی نادانی وه .

ددغسی سړی په حال ډير افسوس په کار دی .

که ديوه ملت دغه حال وی له دينه لويه بدبختی بله نشته.

دناپوهانو فطری اومعنوی استعداد همدغسی له خاورو لاندی پټ پاته کيږی لکه چی دناپوهه قام معدنونه پاته دی.

* * *

دکتاب معرفي

خوست دازادۍ په لمرخرك كي

س . ر . د

دکتاب نوم : خوست دازادي په لمر ځرك كي
ليكنه اوټولونه : الحاج ننگيال
دچاپ نيټه : ۱۳۷۰ هـ ش ثور
دچاپ شمير : دوه زره ټوکه
خپرونکي مؤسسه : دالحاج مولوي حقاني دجبهاتو فرهنگي ټولنه
کچه : ۸.۵۰ × ۵.۵۰
مخونه : ۱۹۱+۱۲=۲۰۳

خوست دازادی په لمر ځرك کی دهغه کتاب سرليك دی چی په دی وروستيو وختو کی دالحاج مولانا جلال الدين حقانی دفرهنگی ټولنی له خوا په ډيرښه قطع او صحافت چاپ اوخپور شوی دی.

دکتاب لومړنی پنځه ويشت مخونه «خوست دفتحی دآزادۍ په پلوشو کی» ترسرليك لاندی دالحاج ننگيال په عالمانه سريزی ښکلی شوی چی په کی ليکوال دحقايقو، واقعيتونو اواسنادو په رڼاکې دخوست دفتحی دعملياتو په عمومی جريان اودفتحی په عواملو مفصل بحث اوژوره څيړنه کړی اودايی په گوته کړی چی په دغو عملياتو کی څاڅومره

په پنځم مخ

لنډه کيسه

خيالي تصوير

عوض الدين «صديقي»

مانشوه منلی چی زه دی دهغه بوير پر تفر ناست وم ، ذهن کی می دی خبری اړخ نه لگاوه چی هغه به دابدی ژوند پرلور يون پيل کړی وی ، تصور کی می هم نه گرځيده چی هغه دی ، درحيم شاه ملگری شوی وی ، په سترگو کی می دهغه دټوکر ، ټوکر بدن تصوير نه چوريده ، په خوله کی می خلکو سره دامين ويلو غږ نه شو بدرگه کولی ، هرڅومره به می چی حواس راټول کړل ددی خبری دمنلو ځای به می نشو پکی پيداکولی ، هماغه دتار ، تار ږيری عيسی به می مخی ته گوندی ووهلی ، په ږيره کی به يی ورو ، ورو لاسونه وهل اوکله به يی په دواړو لاسونو ول ول لنگی ټينگه کړه ، دزيات زيار وروسته به په دی برياليٰ شوم چی شونډی خبرو ته بيرته کړی ، په ډيره نرمه او مينه ناکه لهجه به يی خبری پيل کړی :

... مورچی لومړی جهاد پيل کړ ، يواځی غو گور ټوپك مو لرل په غوگورو مو چی روسان مات کړل ، اوس خو شکردی ښی وسلی لرو انشاالله ډير زر به دنجيب گوډاگی رژيم رانسکور شی

... بيا به يی دجهاد دکرلیچونو کيسی بيان کړی ، کله به يی داحمد خيلو غونډی ته بوتلم هلته به يی دصوفی کريم اتلولی راته بيانولی ،

په پنځم مخ

خوست دآزادۍ په لمرخرک ...

اوځنګه رول درلود ، دچاپه تدبر اوپوهه ددغو بریمنو عملیاتو نقشه اوپلان طرحه اوپه عمل کی پلی شوه .
دکتاب په ۲٦ مخ کی هغه مرکی پیل کیږی چی الحاج مولانا جلال الدین حقانی دخوست دفتحی دجګړی په جریان کی دجهاد په تاوده سنګر اوله فتحی څخه وروسته له داخلی اوبهرنیو ژورنالستانو سره کړی .
په دی لړ کی لومړی هغه مرکه راځی چی حقانی صاحب دمنبع الجهاد دمجلی له خبریال سره دجګړی له ډګر څخه دمخابری په ذریعه کړی اوپه هغی کی دخوست دفتحی دعملیاتو جریان اودمجاهدینوپرمختګ اوبریالیتوبونه توضیح اوتشریح شوی دی وروسته هغه مرکه راځی چی دجهاد نومیالی قوماندان حقانی صاحب دخوست له ستری فتحی څخه دری ورځی وروسته دمنبع الجهاد دفرهنګی تولنی له غړو سره دشهید سلمانشاه په غنډ کی کړی ده په دغه مرکه کی

دخوست دستری فتحی په عواملو ، له دښمن څخه په غنیمت شویو سپکو اودرنو وسلو ، ددښمن دنیول شویو افرادو او جنرالانو ، نورو او لویو صاحب منصبانو ، عسکرو ، ګلم جم ملیشه اوقومی ملیشه ، ارقام اوشمیرنه په ګوته شوی .
بیادبی بی ، سی له خبریال سره دالحاج مولانا جلال الدین حقانی مصاحبه راغلی ده.وروسته المرابطون عربی له مجلی سره دحقانی صاحب مصاحبه راځی اودغی برخی په پای کی دانصارالمسلمین له وفد سره چی دخوست له ستری فتحی وروسته یی سیمی ته سفر کړی ، دجهاد دنومیالی قوماندان مولانا جلال الدین حقانی مرکه راغلی ده .
دکتاب دریمه برخه په ٦۲ مخ کی دخوست فتحه دخبرونو په آئینه کی ترسرلیک لاندی پیل کیږی .
په دغه برخه کی دخوست دفتحی دبریالیو عملیاتو مفصل راپور تاژ دخوست

ترفتحی وروسته دخوست دجهادی قوماندانانو په مشری یو مطبوعاتی کنفرانس ته دالحاج حقانی مفصله وینا ، دخبریالانو پوښتنی اودحقانی صاحب ځوابونه راغلی دی ددغی برخی په پای کی په مطبوعاتی کنفرانس کی په خوست کی دروسانو دمزدور رژیم دنیول شویو افرادو په نمایندګی دمزدور رژیم ددفاع وزارت مرستیال ډګر جنرال ظاهر سوله مل اودخوست د۲٥ فرقی قوماندان برید جنرال ګل اقا څخه دبهرنیو اوکورنیو خبریالانو پوښتنی اودوی ځوابونه راغلی دی ، دغه برخه دکتاب په ۸۹ مخ کی پای ته رسیږی اوپه ۹۰ مخ کی دراپور تاژونو څپر کی پیل کیږی
په دغه لړ کی لومړی دمنبع الجهاد دفرهنګی دووتنو خبریالانو شاغلو محمد یعقوب اواحمد ضیا رحیمزی دخوست هلته چی دحق دلاری سپاهیانو دباطل جرړی ویستلی ترسرلیک هغه مفصل راپور تاژ راغلی چی نوموړو خبریالانو دخوست دفتحی دعملیاتو د ۱۷ ورځنی جګړی په جریان کی لیدلی کتلی ، اوریدلی حالات انګیرنی

اواحساسات په ډیره ښه بڼه پکی انځور کړی دی وروسته بیا لاهور ته دحقانی صاحب دسفر هغه راپور تاژ راځی چی دجمعیت علما په صوبایی غونډه کی دګډون لپاره دجمعیت العلما دمشر سناتور مولانا سمیع الحق په بلنه دخصوصی میلمه په توګه بلل شوی ؤ په دغه راپورتاژ کی یې غونډه کی دحقانی صاحب عالمانه وینا اودخوست دفتحی په اړوند له حقانی صاحب سره له جنګ اونوای وقت دخبریالانو مرکی او یو شمیر لیدنو کتنو دجریان لنډیز رانغښتی دی .
وروسته آزاد خوست ته دحقانیه دارالعلوم داستادانو سفر ترسرلیک لاندی خوست ته دمولانا انورالحق په مشری دحقانیه دارالعلوم داستادانو دسفر لنډ راپور تاژ دی چی داردو الحق مجلی څخه په پښتو ژباړل شوی په دغه راپورتاژ کی لیکوال دسترګو لیدلی کتلی حالات ، منظری ، تاثرات اواحساسات په ډیره ښه بڼه انځور کړی دی .
وروسته دخوست فتحه دکابل دفتحی یقینی زیری دی ترسرلیک لاندی دپاکستان مشهور صحافی اوژورنالست اوله کراچۍ نه دخپریدونکی

مشهوری اوُنیزی مجلی تکبیر چلوونکی محمد صلاح الدین هغه تاثرات اونظریات راغلی چی دمنبع الجهاد دفرهنګی تولنی له مسوولینو سره یی دلیدنی کتنی اومرکی په ترڅ کی دخوست دستری فتحی اودافغانستان دمومنو وګړو دجهاد اوویاړلیو کارنامو په اړه یی څرګند کړی دی ، ددغی څپرکی په پای کی په خوست کی څوورځی ترسرلیک لاندی دخوست دبشپړی بریمنی فتحی وروسته دغی سیمی ته دپاکستانیو ژورنالستانو دسفر راپور تاژ پښتوژباړه شوی چی په لاهور کی دافغانستان داسلامی حزب دنمایندګی له خوا خپریدونکی اخبار پیغام جهاد کی داختر اعوان په قلم کښل شوی دی تردغی څپرکی وروسته دکتاب ۱٥٦ مخ څخه تر ۱٦۱ مخ پوری دلنډیز ترسرلیک لاندی په کتاب کی راغلی ډیرمهم واقعات ، شمیرنی اودیاملرنی وړ تکی دستوری (*) په علامی سره نښنه اوپه لنډه توګه توضیح اوتشریح شوی دی .
دکتاب په ۱٦۲ مخ کی دخوست جګړه اوفتحه په خپرونو کی یوجلا څپرکی پیل کیږی اوتر ۱۸۷ مخ پوری په مصوره توګه دهغو کورنیو

اوبهرنیو خپرونو نومونه اوسرلیکونه راغلی چی دخوست دستری فتحی موضوع پکی انعکاس موندلی دی .
دکتاب په ۱۸۸ مخ کی دمبارکی پیغامونه ترسرلیک لاندی بل څپرکی پیل شوی اودمبارکی دسلګونو پیغامونو له جملی څخه چی دحقانی صاحب په پیښور کی دهغه دنمایندګیو دامریت اودفرهنګی تولنی په نوم راغلی یو څوډبیلګی په توګه چاپ شوی په دغه لړ کی لومړی د.... پیغام وروسته دافغانستان داسلامی جمعیت دمشر استاد برهان الدین ربانی پیغام بیا دآئینه افغانستان دمسوول سید خلیل الله هاشمیان پیغام له لویدیځ المان څخه دالحاج وکیل سراج الدین منګل پیغام اوپه پای کی دافغانستان لپاره دناروی دکمیټی پیغام خپور شوی .
دکتاب وروستی شپاړس مخونه عسکونو نیولی دی په لومړی مخ کی ددفاع وزارت دمرستیال په شمول ددښمن دقواوو دپنځو تنو جنرالانو عسکونه دی چی دخوست په ستره فتحه کی دمجاهدینو په لاس اسیرشوی اوبیا وروسته په ترتیب سره په یو تصویر کی دمجاهدینو دعبوری حکومت رئیس محترم صبغت
په شپږم مخ

ادبی اصطلاحات :..

۲- دادبیاتو تاریخ :- دادب ډیره مهمه او باارزښته څانګه ګڼلی شی.دغه څانګه دادب دانکشاف ، برتګ او وړاندی تګ پروسه څیړی او په دغه پروسه کی دډامنځته شوو ډول ډول ادبی پدید و ارزښتو نه ټاکی.یا په لنډه وینا ویلی شو چی دادبیاتو تاریخ د یوی تولنی دادبی جریانونو انکشاف او وده دتاریخ په بیلو بیلو دوروکی ترڅیړنی لاندی نیسی .
دادبی تاریخ لیکوال ته لازمه ده چی دادبیاتو په تیوری کی لازمه مطالعه ولری .
په ادبی تاریخ کی دادبی دور و تثبث او تشخیص ډیره ستونزه وره مسله ده دادب تاریخ لیکوال باید دادبی دورو په بیلو نه او دادبی دورو تر منځ داړیکو په څیړنه کی له پوره غور او دقت نه کارو اخلی . په دغه برخه کی دلیکوالانو او شاعرانو او ادیبانو ژوند پیښنی ، د دوی چاپیریال او دتولنیز ژوند شرایط ، دلیکوال او شاعر داجتماعی دریځ ، دلیکتو پیغام او داثارو او افکارو څیړنه او سپړنه کیږی .
۳- ادبی کره کتنه (نقد) :-دادبی کره کتنی ډول ډول تعریفونه شته خوترټولو مشهور تعریف یی داسی دی :
ادبی کره کتنه هغه علم او پوهنه ده چی دهنری او ادبی اثارو ارزښت ټاکی بنی او بدی خواوی یی په ګوته کوی .
ادبی کره کتونکی هغه څوک دی چی دمنل شویو معیارنو او ټاکلیو اسلوبونو له مخی دیوی ژبی په اثارو کره کتنه کوی.په کره کتنه کی کره کتونکی ته لازمه ده چی تر نقد لاندی اثر دلیکوال د ټولنیز ژوند په شرایطو ،طرزفکر ، دلیکنی په ژبه ، هنری او ادبی نزاکتونو ژوره پوهه ولری ، دکره کتنی په وخت کی خپلی شخصی غوښتنی ، یوی خواته کړی او د انصاف له مخی پراثرقضاوت وکړی او دهغی په هکله رایه قایمه کړی .
ادبی نقد ډیر ډولونه لری ځینی یی دادی .
۱-سیکا لوجیکی نقد . فورمالیستی نقد - میتو لوژیکی نقد.. [illegible] «توربیا»

خيالي تصوير ...

دهغه په وینو لړلی ټوټی ، ټوټی بدن به یی راته وژړل .
... دشهید صوفی کریم به داسوال ؤ چی خدای می دی مخامخ پرتندی ولی ... اوهماغسی وشول ... اوکله به یی درحیم شاه دمیړانی تاریخ زما مخی ته وغوړاوه ، دهغه قهرمانیو به دده شمله لا نیغه کړه ، دروسانو سره دهغه دتن په تن جګړی کیسی به یی بیان کړی او دهغه دشهادت په یادولو به یی دیاس اوخپګان اوښکی وڅڅولی .
... هغه خو خوشبخته وه چی دالله (ج) ددربار میلمه شو... خو موږ یی نیمګړی کړو ... پرچونی لورختو کیسی به یی پیل کړی ، دنعیم زړورتیا اوتدبیرته به یی دعقیدت پیروزوینی وړاندی کړی :
... دیارلس تنه ؤ چی پر چونی وروختو ، دتوپك پر برچو مومینونه راویستل ، نری لار مو یوی پوستی ته خلاصه کړه ، او بیا مو تعرض پیل کړ ، مقاومت ډیر کمزوری وه ، په نیم ساعت کی مو څو پوستی ونیولی ، خو وروسته پر موږ دنری څخه انداخت پیل شو او زموږ تول ملګری یا شهیدان شول ، اویا ټپیان ، مجبور شو دنیول شویو پوځیانو په مرسته راکوز شو ، اونیول شوی سیمی بیرته خوشی کړو ... دڅاځیو پرخه په پرخه اومورچه په مورچه به یی وګرزولم ، دروسانو ظلمونه اودمجاهدینو ویاړونه به یی راته بیان کړل خوچی بیرته به دناستو خلکو ملګری شوم ، نه به عیسی وه اونه پر هغه دتیرو شوشپو ، ورځو کیسی ، هماغه دګڼی ډیری ځوان به لګیا ؤ :
... عیسی کورته روان و ، ماسره یی خدای پامانی هم وکړه ، زه چینی ته داوداسه لپاره راکوز شوم خولامی لاسونه اوبو ته نه و ورټیټ کړی چی سکڼ ولګید اودوی خیمه داور په لمبو کی ورکه شوه ترټولو ړومبی مادوړ اواور په لمبو کی ځان ورورساوه ، عیسی تر علی خیلو ژوندی ؤاو په علی خیلو کی یی ساه ورکړه دحجری له کونجه چاپړی راغږ کړ:
... کومو ځایو ته لګیدلی و ...
هیڅ نه و خراب شوی یواځی خو چړی یی پر ټټر لګیدلی وی اوبس ، تار ، تار ډیره یی په بی روحه جسد کی هم دمخ ښکلاوه.
وروړ یی په ژړ غونی غږ ځان په خبرو کی راګړ کړ :
... همدایی سوال ؤ چی خدایه ! ټوټی ، ټوټی شهادت می نصیب کړی ...
بیا هلته دټولو پر اننګو دانه ، دانه اوښکی راغلی ، ټول سلګیو په مخه کړل ، پر دسمالونو یی اوښکو ته ښلونه واچول ، کری ساعت ټول دځان سره په راز ونیاز کی شول ، چایوه بل ته لیدی نشوه ، زه ناسته خلکو ته څیر شوم ، ددسمالونو بند داوښکو مخه ونشوه نیولی ، دټولو پر مخ بیا اوښکی راروانی شوی ، رښتیا چی خس اوخاشاک دسیل په وړاندی هیڅ دی ، دټولو دسمالونه خویشته و ، دځینو دډیرو ویښتو هم داوښکو په دریاب کی لامبو وهله ، زه هم دهغه دژوند اوشهادت په مجادله کی مغلوب شوم ، دناستو خلکو ملګری شوم دهغه خیالی تصویر می له مغزو ورك شو ، ټول دهغه پر غلبیل ، غلبیل وجود ورټیټ شو دهغه دوجود پر څپك ، څپك داوښکو څاڅکی وڅڅیدل ، په خپلو وینو کی لیت پیت پروت ؤ خو خوله یی له خندا ډکه وه ، لکه چی پر خپلو کارنامو یی ویاړل ، لکه چی خپل ارمان یی ترسره شوی لیده .

دجهاد فلسفه

دجهاد دپرمختګ څرنګوالی اوخصوصیت

مولانا عبدالمجید

څلورمه برخه :

څرنګه چې جهاد دمسلمانانو دایمی اوپای ته نه رسیدونکی فریضه ده یعنی جهاد دنبی کریم (ص) دوخت څخه پیل شوی اوترقیامته به دوام لري ، نو دجهاد دپرمختګ لپاره باید په کلي توګه داسلام ددین اوشریعت څخه استفاده وشي پدې معنی چې په کومو شرایطو اوقوانینو سره چې نبی کریم (ص) جهاد کړی باید په هماغه شان سره ادامه پیداکړي .

که څوك دپخوا سره دوخت او شرایطو دمغایرت مسئله رامخې ته کوي داخبره ترډیره حده بې ځایه ده ځکه وخت هماغه دی کوم چې ۹۰۰۰ کاله وړاندې ؤ هماغه شپې ، ورځې ، ځمکه ، لمر ، سپوږمۍ ، هوا ، اوبه ، حیوانات ، نباتات ... دي یوازې او یوازې داسبابو تغیر رامنځ ته شوی چې داهم تغیر نه بلکې دځینو اشیاوو تدریجی ارتقا ده یعنې په ابزارو او وسایطو کې دکیفیت اوکمیت له مخې ترقي راغلې په تیره زمانه کې خلکو په اوښ ، اس ... باندې سپرلی کوله اودجهاد لپاره یې استعمالول نن دسپرلۍ دپاره الوتکه ، سیاره ، موټر ، ماشین ... اختراع شوي دي داهم باید وویل شي چې داالاتو او وسایل که له یوې خوا دتمدن سهولت اوتندو اجراتو سبب شوي دبلې خوا همومره دمصیبتونو زیاتیدلو لامل شوي مثلاً پخوا به په توره په ډیره مشکله توګه دیوه تن دمرګ معامله اجرا کیدله اما نن ملیونونه انسانان بې له دې چې قاتل دمشکل سره مخامخ شي په یو ځل له منځه تللی شي ... ږومبې به په زغره ، توره او ډال مقابله کیدله نن توپ ، ټانك ، طیاره ، بم هستوي اوکیمیاوي مواد ددغه مقصد دپاره په کار وړل کیږي .

مهمه خبره داده چې زمانه په شیانو اوکارونو کې حقیقتاً موثره ګڼل اوپه دې ډول عقیده وربانداې کول چې داتغیرات اوتحولات زماني راوستي دي یایې راولي داعقیده خطرناکه ده ځکه دادیوې ډلې کافرانو عقیده ده چې هغې ته دهریه (دزماني عبادت کوونکي) ویلی شي لنډه داچې مقاصد ، قوانین ، کلیات هماغه پخوانی دي اما ابزارو خپل شکل ته نوی جامه وراغوستی ده .

څرنګه چې دمخه مو یادونه وکړه چې جهاد دمسلمانانو دپاره یو عبادت دی نوپه عبادت کې به کټ ، مټ دخدای (ج) حکمونه اودرسول الله (ص) اقوال اوافعال منل کیږي اوپه ځای به راوړل کیږي اودجهاد دپرمختګ راز باید همدې ټوارو کې ولټول شي نه په نورو شیانو کې .

البته ځینې فرعي مسایل اوموضوعات چې په نوو شکلونو متبارزکیږي داموضوعات اومسایل به حتمي دفقهاوو په مسانیدو کې په عین شکل یادلږ څه تغیر سره موجود وي اوبالفرض که موجود نه وي نو دامت راسخ علما وظیفه لري چې په اجتماعي توګه ددغسې مسایلو حل دهر وخت سره دعلم په رڼا کې وکړي .

لهذا جهاد هغه وخت دهدف په لور صعودي قوس طې کولی شي چې لحظه په لحظه اوقدم په قدم دخدای (ج) فرمانبرداری اودرسول الله (ص) اطاعت او دقران په خط مشي باندې استوار وي اوکه دخدای (ج) اورسول (ص) اوامر او نواهي په کې پایمالیږي نوداجهاد نه دی بلکه جګړه ، منازعه ، مشاجره ... ده ددې څخه وروسته برې وي که ماتې هغه به دجهاد نوم ته نه وي راجع بلکې دی نورو نومونو ته به راجع وي ځکه چې الهي قوانین په روا عمل کې مات شي بیا روا عمل جایز نه پاتې کیږي .

یوه ستره اشتباه چې دغلیمانو په سپیرو خوړ پوړ ستړګو کې ځغلي اودغر ډکه ژبه باندې داسلام په دین اتهامانه ګذارونه کوي دجهاد دمبارکې کلمې څخه غیر مراده معنی اخیستل دي هغه داچې وایي داسلام مسلك بې له جنګ او کشمکش څخه بله قانوني لایحه نه لري .

یوه علمي خبره داهم کیدای شي چې هرسوال دځواب ویلو قابلیت نه لري ځکه ورته دمقابل لوري له پلوه ځوابونه نه ارایه کیږي که نه هر سوال ته یو مثبت یا منفي ځواب ویل کیدای شي ، جهاد یو عبادت دی نو دا تخریبي نه بلکې تعمیري عمل دی که معاندینو ته منعکس لیدل کیږي داتنقیص دهغوی په بصیرت علمي اونظري کې دی که نه منظور یعنی لیدل شوی شی (اسلام) کاملاً دهغه څه څخه پاك دی کوم چې دلوی اذهانو لوی ته انعکاس کړې دی ځکه فتنه ، فساد ، فحشا دابدانو اوروان ابادی نړول داسی تخریبي عمل دی چې جبران یې بې له جهاد څخه په بل څه ممکن نه بریښي ځکه فتنه دقتل په نسبت ډیره بده ده .

جهاد دمقاتلې په مفهوم ځانګړې شروط اوقوانین لري ترڅو چې هغه قوانین اوشروط نه وي ثابت شوي مسلمانان جهادي کشمکش ته لاس نه غزوي .

ډیره ښکلې نقطه داده چې داشرایط به دکفارو ، مفسدینو ، منافقینو ، مرتدینو ... له خوا تهیه کیږي کله چې دوی داشرایط اماده کړل بیادمسلمانانو دپاره څه ګناه کیدای شي چې ددې کمیو او زیاتیو (مظالمو) مقابله کوي اوهر اړخیزه اصلاح یې رامنځ ته کوي ددې لپاره چې انساني ټولکم دمهلکو فتنو څخه وژغورل شي ، دبیلګې په ډول که روسانو په افغانستان کې انساني ضد شریره لاسوهنه نه وي کړې حدود یې نه وي مات کړي اونظامي منحوس تیری یې نه وي کړی نو مجاهدینو په لومړي ځل وریسې تورې توپکونه مسکو ته نه وروړل ځکه داداسلام ددین تقاضا نه ده .

مخکې له دې څخه چې په توره ډال ورسره مقابله پیل کړي داسلام مبارک دین دجهاد دپیلامې له پاره شرطونه لري ترڅو چې داشرطونه موجود شوي نه وي جها دنه پیل کیږي اول به داشرطونه تحقق پیداکوي بیا به مسلمانان داول ځل لپاره مقابل لوري ته څرګند اعلان ورکوي اودحق اودباطل ترمنځ واقعاً فرق کوونکي معادله دتحلیل عرصې ته وړاندې کوي دتاریخ په اوږدو کې هیڅوك ثابتولی نه شي چې مسلمانانو په فلاني قوم یا ځای باندې مخکې دایجاد دشروطو دجهاد څخه نابېره هجوم وروړی یایې بې له اعلان څخه جهاد ورسره پیل کړی وي .

داسلام دین دجګړو ماجرو ، شخړو ، ورانیو ، بربادیو ، قتلونو ، فساد ... نه یوازې داچې ایجادونکي نه دي بلکې دداسې انساني ضد عملونو دمنځه وړونکی دی دجهاد پاکي اوعظمت دقرانکریم ، نبوي ارشاداتو اواسلامي تاریخ څخه په لمر مثال ډول ثابت دي اودجهاد موضوع په څرګنداوکلي ډول حل وفصل ده هیڅ نوع ابهام تشکیك ، تردید ... په کې وجود نه لري .

۱- دجهاد دپرمخ بیولو لپاره اولین شرط دمسلمانانو ګروه (مجاهدینو ...) علمي او رواني قوه قابل اعتماد معیار ته لوړول دي په دې معنی چې هرمجاهد شخص داسلام په عقیده ضروري احکامو اودجهاد په قوانینو باندې دخپل استعداد سره سم پوهیږي .

۲- خپل تشخص ، حیثیت ، مرتبه اووظیفه باندې وپوهول شي اوهم دآمر ، مامور ، مشر ، کشر او نورو حقوق وپیژني .

۳- دجهاد دپاره دمړنو وسلو ، شرایطو اوحالاتو څخه باید باخبره واوسي او دهرعمل اوتاکتیك خپل خپل ځای وپیژني اوپه کاوونو کې داهم اومهم ترمنځ عملي توپیر وکړی شي .

٤- دخپلو وینو اوشهادت ارزښت اوقیمت درك کړي .

٥- دخیراوشر ترمنځ دتمیز کولو لپاره باید لازمه روزنه اوپرورش ورکړی شي .

٦- دجهاد اومجاهدینو په وړاندې وخت په وخت دخنډونو دمنځه وړل اودمشکلاتو دتحلیل دپاره لازم علمي اوعملي تدابیر ونیول شي .

٧- امر بالمعروف اونهی عن المنکر باید جداً مراعات شي

ټول وکړي دقوماندان او قاید څخه نیولې ترمجاهد او مستخدم پورې خپلو منځونو کې یو دبل کره وړه په ژوره توګه اوغور سره دنظر لاندې ونیسي دانحراف اوخطا په وخت کې خپل محبوب او ګران مسلمان ورورد صمیمت په معطره فضا کې دبدعملي څخه راستون کړي ترڅو دخیر ، عبادت ، شر اوفساد ترمنځ تمیز وشي اوامر په نیکي اومنع دبدي څخه دیوه مسئولیت په حیث خپله دنده اوفریضه وګڼي .

۸- دتجاهل ، سرزوري ، بې دیني ، فساد ، شراوبې عقلي سره وړاندې تګ څخه په جدي توګه ممانعت وشي ځکه په دې ډول کړنلاره ترقي اوبرې دشیطانانو ، طاغوتانو اوکافرانو خاصه ده اومسلمانان دشیطاني ، طاغوتي اورزیله تعامل اوکرکتر (اخلاق) څخه تولنه ژغوري .

۹- داسلامي شریعت څخه قدم په قدم پیروي وکړی شي اودشریعت دمخالفت په موجودیت کې شرعي حدود ، قوانین اواحکام پلې کړی شي .

۱۰- دجهاد په دوران اوسنګرونو کې باید ددین شرعي حدود په لازم ډول جاري کړی شي ځکه کله چې یو مجرم دګناه دارتکاب سره سم مجازات نشي دیوې خوا ده ته دنور لازیات جرم کولو له پاره جرئت وربښي اودبلې خوا نورو ته دشر دتقلید لاره برابروي اوهمدغه دحقیقي ، اصلاحي ، ضابطي عدم موجودیت دی چې جهاد په جګړه ، عبادت په معصیت اوفساد باندې بدلوي دفساد اوشر څخه دخیراوخوشحالي امید کول دخپل ځان اوامت سره جفا ده ، روښانه حقیقت دی هرعمل چې دشریعت څخه مخالف وي هغه شر اوفساد دی اودشر اوفساد څخه دخیر ارزو دناپوهي اوحماقت معنی لري .

په لنډ ډول باید وویل شي چې دجهاد پرمختګ دقران اواحادیثو په پلې کولو کې نغښتي دي .

****
****

> داسلام دین دجګړو ، ماجرو ، شخړو ، ورانیو ، بربادیو ، قتلونو ، فساد ... نه یواځې داچي ایجادونکي ندي بلکه دداسي انساني ضد عملونو دمنځه وړونکي دي.

> جهاد هغه وخت دهدف په لور صعودي قوس طي کولي شي چي لحظه په لحظه اوقدم په قدم دخداي (ج) فرمانبرداري اودرسول الله (ص) اطاعت اودقران په خط مشي باندي استوار وي.

خوست دآزادی په لمرځرك ...

الله مجددي چې حقاني صاحب ته دخوست دستري فتحې دمبارکۍ ویلو لپاره ورغلی ښکاري اوپه وروسته تصویرونو کې دحقاني صاحب دلاهور دجمعیت علما په صوبايي غونډه کې دترصد په غونډۍ کې دخوست په زاړه هوایي ډګر کې تخریب شوي الوتکې ، ددښمن دنیولو شویو افرادو له لوړ رتبه اوټیټ رتبه صاحب منصبانو نیول شوي ګلم جم ملیشه عسکر اوله حقاني صاحب سره داستاد رباني ، حکمتیار صاحب ، مولانا فضل الرحمن درحیم وردك قوماندان الحاج عبدالحق چې دمبارکۍ لپاره خوست ته ورغلي اودیو شمیر نورو مجاهدینو ډول ، ډول عکسونو دکتاب وروستي مخونه ښکلي کړي .

دکابل – جلال اباد پرلویه لاره دمجاهدینو درانه عملیات

ننگرهار، جهاد هنداره

دننگرهار له جهادی سنگرونوڅخه په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی چی مجاهدینو په ۱۳۷۰/۵/۸ نیټه دکابل جلال اباد پرلویه لار دعزیزخان کڅ څخه تر سروبی پوری دمزدوررژیم په پرتو پوستو عملیات ترسره کړل.

خبر زیاتوی چی په هغو عملیاتوکی چی دافغانستان داسلامی حزب اودافغانستان داسلامی اتحاد دمجاهدینو له خوا په ګډه سره سرته ورسیدل دکابل-جلال اباد پرلوی سړك درژیم پرتی ۲۱ پوستی له منځه لاړی اودښمن ته دسراومال درانه تلفات وراوښتی دی.

میډیا دننگرهار ولایت دمحلی قوماندانانو دشورا په حواله په یو خپورکړی رپوټ کی وایی چی دروسانو دمزدور رژیم داسد په ۱٤مه یو سکډ توغندی دجلال اباد طورخم په لویه لار دلندی خیبر په سیمه ولګید اوپه همدغه ورځ یی دننگرهارولایت په شاوخوا سیموکی دمجاهدینو په مرکزونو اوعامه استوګنځیو سخته بمباری وکړه.

په یو بل خبر کی ویل شوی چی مجاهدینو دیو لړ ګډو عملیاتو په ترڅ کی دزمری په اومه نیټه ددرونټی دبریښنا ستیشن یوه برخه تخریب کړه چی دهغی له امله دجلال اباد پر ښار کې دبریښنا جریان له یوی مخی قطع شو.

خبر زیاتوی چی مجاهدینو دجلال اباد په محاصره شوی ښار، په هوایی ډګر اونورو نظامی تأسیساتو دسکرشل توغندیو ږزي وکړی چی په نتیجه کی دښمن ته دسراومال درانه تلفات وروااوښتل.

یو بل خبروایی چی دتورغر اوسروبی په سیموکی دملحد دښمن اومجاهدینوترمنځ دجګړی په جریان کی ۱۹ تنه مجاهدین ټپیان او ۱۱ تنه دشهادت لوړمقام ته رسیدلی دی.

همدارنګه مجاهدینو دزمری دمیاشتی په ۹ نیټه دسهار په اته نیموبجو ددښمن هغه جیپ الوتکه راوغورځوله چی وریښمین تنګی ته نژدی یی دمجاهدینو په سنګرونو بمباری کوله ویل شوی چی نوموړی الوتکه دسروبی په دښته کی راغورځیدلی اوله سپرلی سره یو ځای داور په لمبو کی سوی ده.

دیو بل خبرله مخی مجاهدینو دکابل جلال اباد پرلویه لاره دماهیپر ملیشه ؤیوولس پوستی له منځه وړی ۳ فعال ټانکونه او ٥ عرادی جوړموټر یی ولجه کړی دی.

همدارنګه دمورچه بند مجاهدینو په نوموړی نیټه دوریښمین تنګی، مورچل قرارګاه، مثلی کمر ،کفترخانی کلیمه پوسته، سپینه تانه اودرګی پوسته ددرنو وسلو او توغندیو په ذریعه تربرید لاندی نیولی چی په نتیجه کی دوه کندکونه دوسلو دوه دیپوګانی په بشپړه توګه تباه شوی، ۳٥ تنه ملیشه اوعسکر وژل شوی دی.

خبرونه وایی چی مجاهدینو دکابل جلال اباد لویه لار په بشپړه توګه دترافیکو پرمخ تړلی اوتیره ورځ دیولړ عملیاتو په ترڅ کی دړژیم دپیاده قواو ٤ عرادی ټانکونه اوشپږ پوځی موټرونه تخریب شوی دی.

دحق اوباطل ترمنځ په دغه جګړه کی دمجاهدینو دوه تنه سرګروپان حضرت خان اوتاکید شاه په شهادت رسیدلی دی.

مجاهدینو دزمری په ۱۰ نیټه دوریښمین تنګی او عزیز خان کڅ کی د مزدور رژیم ۱۱ پوستی فتحه کړی دی له درونټی څخه ترسروبی پوری په لار کی ددښمن دقواو په پوستو اوپوځی مرکزونو یی درانه عملیات کړی چی په نتیجه کی یی ددین او وطن دښمنانو ته دسراومال درانه تلفات وراړولی دی.

خبر زیاتوی چی ددښمن الوتکی په شاوخوا سیموسخته بمباری کوی چی دهغی په نتیجه کی په دوواتسن موټرونو کی سپاره ۸ تنه شهیدان شوی او ۱۳ تنه یی سخت ټپیان شوی دی.

دیو بل خبرله مخی مجاهدینو دزمری په ۱۲مه نیټه دهغو عملیاتو په ترڅ کی چی په سرخکانو او مشهدی تانه کی یی سرته ورسول ددښمن ۱۲ زرهپوش ټانکونه په غنیمت ونیول او ددښمن دقواو زیات شمیرافراد دجګړی په جریان کی ووژل شول.

همدارنګه دقوماندانانو شورا دسیاسی دفتر درپوټ مطابق مجاهدینو په نوموړی نیټه په سروبی کی واقع دملاعمر قرارګاه فتح کړه څلور زرهپوش ټانکونه او دیرزیات مهمات یی په غنیمت ونیول.

دغه منبع همدارنګه رپوټ ورکوی چی داسد په ۱۱ مه نیټه دمزدور رژیم له قواو څخه د۲٦ تنو صاحب منصبانو په شمول ۱۱٦ تنه عسکر دخپلو وسلو سره دخیروخیلو، سپینی تانی، زړی قلا اوشترخانه کی مجاهدینو ته تسلیم شول.

خبرونه وایی چی ددښمن په پاتی پوځی مرکزو اوپوستو دمجاهدینو دعملیاتو لړی روانه ده، تهوله سیمه دمجاهدینو دقوماندانانو دشورا دپریکړو په نتیجه کی پخپل منځ کی ویشلی اودلاپراخو عملیاتو لپاره تدابیرنیسی همدارنګه دجلال اباد په محاصره شوی ښاردمجاهدینو ددرنو وسلو دزی دوام لری اودیوی هراړخیزی جګړی لپاره طرحی اوپلانونه جوړیږی چی په نږدی ورځو کی به عملی شی.

همدارنګه په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی دی چی دروان کال داسد میاشتی په ۱۳ مه نیټه دکابل مزدور رژیم دخوګیانیو دقیوم خیلو په کلی ٤۲ بمونه اودمملی په باغ شپږ بمونه غورځولی چی دهغی په نتیجه کی څلور تنه شهیدان اوپنځه تنه ټپیان شویدی ددغه وحشیانه بمباری له امله څلور کورونه له بیخه نړیدلی اوګڼی زراعتی ځمکی اوباغونه یی تباه کړیدی.

دافغانستان دربړی دحل ...

هیوادونه زموږ سره ددغه مرام دتر لاسه کولو لپاره مرسته او ملګرتیا وکړی . ددښمنا نو په توطئو او سازشونو غولیږی او دهغو مذبوحانه هلو ځلو سره خپله خوښی او ملګرتیا په یوه نوم او بل عنوان اعلانوی چی هغه داسلام او افغانانو سره په ډاګه خیانت دی :

دحیرانتیا خبره خو داده چی په تیره اونی کی په اسلام اباد کی ددریو فریقینو ترمنځ خبری اتری هم بی له کومی مثبتی نتیجی دیوه نامعلوم وخته پوری وځنډیدی ددری ورځینی جلسی په اخره کی فقط یوه ګډه اعلامیه خپره شوه چی باید نړیوال خپل کوښښونه دافغانستان دربړی پلو مرکوزکړی او دملګروملتو دسر منشی دپنځه فقره ایزه طرحی څخه دامن او امان دراوستو په لاره کی کاروااخیستی شی!

له بده شامته موږ فکر کاوه چی شاید دغه ددریو فریقینو غونده چی برخه وال یی ځان دافغانستان دکشالی دحل غوښتونکی ګڼی یوی پریکنده نتیجی ته ورسیږی په دغه غونده کی چی په ایران کی میشته دافغان مجاهدینو دګوندونو نماینده ګانو هم ګډون درلود داسی فکر کیده چی اوس به سره ګرد اختلافات له منځه ولاړشی او دغه جلسه به دیوه ګډ او مشترك اسلامی مؤقتی حکومت په جوړولو کی په زړه پوری کاروړکړی.

خوله بده مرغه داسی ونشول ځکه دایران اسلامی دولت کوښښ کوی ترڅو داینده لپاره په افغانستان کی شیعه ډلی په دولتی قدرت کی دزیات واك او ځواك خاوندی کړی او دهمدغه کار لپاره یی په مذبوحانه هلو ځلو لاس پوری کړیدی که نه نو هغه کوم عوامل دی چی ددریو مسلمانانو تر منځ ځنډ اوخنډګرځی؟ داخبره باید په پام کی ولرو چی دیوی اوږدی مودی راهیسی دایران اسلامی دولت دکابل دګوډاګی او مزدور رژیم سره هم ځینی پټ او ښکاره تماسونه نیولی ترڅو دافغانستان دربړی دحل په رابطه تری یو څه نتیجه راوباسی او داینده لپاره په افغانستان کی دخپلی لاسوهنی لپاره زمینه برابره کړی . خو موږ باید داخبره په ډاګه کړو چی هغه پټ تماسونه پټی غوندی او دافغانانو درضایت څخه پټی پریکړی هیچری هم څوك په افغانانو نشی منلای . دایران اسلامی دولت باید داخبره په نظرکی ونیسی چی نن دنړی پرمخ ګرد طاغوتیان داسلام او مسلمان دورکولو لپاره سره یو لاس او یو موټی شویدی او نه غواړی چی د نړی پرمخ دی مسلمان خپلواك آزاد او پخپلو پښو دریدلی واوسی ځکه موږ وینو چی نن امریکا – روس اسرائیل او هند په ګډ ه سره داسلامی هیوادو د اتومی بټیوورانولو، ویجاړولو او تباه کولو لپاره ناشونی هلی ځلی کوی نه یی په منځ کی کومه بدبینی شته او نه کوم اختلاف !

نو پداسی حساس وخت کی باید ایران اوګرده اسلامی نړۍ دافغانستان دربړی د حل لپاره په داسی بی غرضانه بڼه پاخه او د رانه قدمونه پورته کړی چی هلته له هر قسمه لاسوهنی څخه پاك یو قوی او پخپلو پښو دریدلی اسلامی دولت منځ ته راشی او شاید چی همدغه کاربه دایران او دنوری ګردی اسلامی نړۍ په فایده او ګټه تمام شی . (انشاالله)

الله (ج) دمجاهدینو ...

دجهنم کندی ته ورګذار کړل نو خبره پخپله ښکاره ده اوښکاره شوه چی پدغه نښته کی چابرخه درلوده اوچانه درلوده.

پوښتنه : که دمجاهدینو اومهاجرینو په نوم څه پیغام لری؟

ځواب : زه پوهیږم چی زموږ دبریالیتوب او کامیابی اصل راز په اتحاد اواتفاق کی نغښتی دی نو چونکه زه هم له مجاهدینو او مهاجرینو څخه دا امید لرم چی پخپل منځ کی اتحاد اواتفاق ته جدی پاملرنه وکړی خدای دی نه کړی چی داځوارلس کلن جد وجهد اوبی شمیره قربانی مو دبی اتفاقی په سیند کی لاهو شی.

والسلام

موږ په افغانستان کې څه ...

مړی راوړی اوبیرته راګرځیدلی » دسرګی په زړه کې دې خبرې ځای نیولی چې دمجاهدینو سره غیبی قوت ملګری دی.

نووموف:

«ولادی نووموف اناطولویچ» په روسی پوځ کی دټانك دتخنیکرپه توګه کاز کاوه، هغه ته په غنډکې دنده وروسپارل شوه، داغونډ د«ثمرخیلو» په سیمه کې ځای پر ځای شوی و، په دې سیمه کې د(۳۵۰۰) تنو څخه زیات روسی پوځیان ځای په ځای و او د«اناطولی»وینا له مخی دهغوی زیات شمیر دروسیی دنیولو شوو ریاستو نو څخه دی، دهوی زیاتره له مجاهدینو سره یوځای کیدل غواړی په دې خاطر روسی صاحب منصبانو هغوی بیرته ولیږل او دهغوی پرځای یی دنورو قومونو خلك راوغوښتل، «ولادی اناطولویچ» وایی هغه یواځی د«پغمان» په ولسوالی کې دمجاهدینو پرضد عملیاتو کی برخه اخیستی په دی عملیاتو کې د دوی دغونډ د ۷۰ تنو څخه زیات پوځیان مړه او ۹۰ تنه ټپیان شوی، «ولادی نووموف» هیله لری چی مجاهدینو سره یوځای دروسانو پرضد وجنګیږی هغه وایی : «پرتولی نړۍ فرض دي چی هغوی دمجاهدینو سره مرسته وکړی اودروسانو دتګ غږ پورته کړی، دهغوی څخه دافغانستان دخرابیدو تاوان واخلی ترڅو په راتلونکی کې کوم هیواد باندی دیرغل جرئت ونکړی».

دجهاد په پوځی ډګر کی . . .

اوحتی قومی ، لسانی،مذهبی اومنطقوی اختلافاتو شخړواوپرابلمونو درامنځ ته کیدو خطر اوویره لاپسی زیاتیدله .
نوپه همدغسی حالاتو کی دجهاد دسنګریو شمیر نومیالی اواتل قوماندانان دالحاج مولوی جلال الدین حقانی په مشرۍ چې له ډیرې اوږدی مودی راهیسی ددغه ربړی داوارۍ اوخطر مخنیوی ته متوجه وو ، دګانګړو اوپله اینو ارتباطاتو په ترڅ کې دخپلی اسلامی پوهی اوبصیرت په رڼا کی دې نتیجې ته ورسیدل چې باید دامکان ترحده دهیواد ټول جهادی قوماندانان په یوې سرتاسری شورا کې سره راټول شی ترڅو وکولی شی په دې وسیله له یوی خوا دجهاد په پوځی ډګر کې یوه واحده پوځی ستراتیژی رامنځ ته کړی اوله بلی خوا دجهاد په سنګرونو کې موجوده ستونزې اودبری په وړاندی راولاړشوی خنډونه او ګڼنونه ؤشیړی اوپه ګډه دحل لاره ولټوی .
ددغو هلو ځلو په نتیجه کې ؤ چې تیرکال دقوماندانانو سرتاسری شورا رامنځ ته شوه .که څه هم ددغه شورا رامنځ ته کیدل ځینو جهادی قیادتونو له پیل څخه دخپلو قیادتونو په وړاندی یو چلینج وګاڼه ، خو ددغی شورا د بیلابیلو غونډو پریکړواو کړنلارو عملاًښوده چې دغه شورا له جهادی تنظیمونو څخه کوم جلا سیاسی سازمان نه دی بلکه دوخت دتقاضا اوډحالاتو دغوښتنی له مخې یو رامنځ ته شوی ارګان دی چې غړی قوماندانان یې دجهادی تنظیمونو غړی اوورسره ژڅی اوږدی اړیکی لری اوهدف یې دواحدی ستراتیژی له مخې پر دښمن دګډ واو یو مخیزوعملیاتو سرته رسول، دجهادی قوتونواوصفونو وحدت اوپه پوځی ډګر کې دجهادی قوماندانانو ترمنځ اړیکی ټینګول اودراولاړشویو ستونزو او خنډونو له منځه وړل دي .
ددغی شورا دپرله پسی غونډو او په هغو کې دشویو پریکړو دعملی کیدو په نتیجه کې چې دجهاد په پوځی ډګر کې کومی څرګندی مثبتی اغیزی شوی،له هغی څخه هیڅوک سترګی نشی پټولی ، دهمدغی شورا دپریکړو له مخی دتیرکال دحوت په میاشت کې مجاهدینو پرخوست ګډ او یو مخیز عملیات پیل کړل چې په نتیجه کې یې دخوست ستراتیژیکه سیمه چې دروسانو مزدور رژیم ته یې حیاتی ارزښت درلود دلوی خدای (ج) په مرسته دروان کال دحمل په میاشت کی په بشپړه توګه فتحه شوه .
همدارنګه ددغی شورا دپریکړو له مخی مجاهدینو دهیواد په شمالی برخو کې په دیو لړ بریالیو ګډو او یو مخیزو عملیاتو په ترڅ کې ددښمن ډیری مهمی ستراتیژیکی سیمی پوځی او حکومتی ارګانونه یو په بل پسی فتح کړل دتخار ولایت اودهغی داړوند ولسوالیو لکه رستاق ، ینګی قلعه او ... بشپړه فتح دهمدغی شورا دپریکړو په بریمنه توګه دسرته رسولو او عملی کولو نتیجه وه .
همدغو فتحواوسوبو دمجاهدینو روحیه اوموړال لوړکړ اوپه جهادی سنګرونو کې یې نوی جذبی اوتحرك رامنځ ته کړ،دهیواد اوپه لویدیځو ولایتونو کې هم دیاوړنی او ستاینی وړسوبی اوفتحی دلوی خدای(ج) په نصرت اودمجاهدینو په پیاوړتیا اوغښتلو مټو سرته ورسیدی ، دګردیز په محاصره‌شوی ښار دمجاهدینو ددرنو وسلو بریدونه ادامه لری اودرارسیدلو خبرونو له مخی مجاهدین په دغه ښار دیوی سرتاسری اوهراړخیزی حملی لپاره چمتوالی نیسی.
دغسی دبدخشان په ولایت کې هم دمجاهدینو بریمن عملیات پرمخ روان دي ، ددغه ولایت یو شمیر ولسوالی،لکه زیباك ، شکاشم ، اوواخان مجاهدینو په تیرو څو ورځو کې فتحه کړی اوس یوازی دبدخشان ولایت مرکز پاتی دی چې پر هغی هم دمحاصری کړی ورځ په ورځ راتنګیږی اوانشاالله هغه ورځ لری نه ده چې په بشپړه توګه دمجاهدینو په لاس فتحه شي.
دهیواد په ختیځو سیمو کې هم دکابل - جلال اباد په لویه لار دمجاهدینو درانه عملیات تیزه اوونی پیل شوی چې دڅو ورځینو پرله پسی عملیاتو په جریان کې دکابل -جلال اباد لویه لار په بشپړه توګه دترافیکو پر مخ تړل شوی اوله درونټی څخه تر سروبی پوری دلاری په اوږدوکې درژیم پراته لوی او واړه (۳۷) پوځی مرکزونه اوپوستي دمجاهدینو په لاس فتحه شوی .اوس مجاهدین دجلال اباد اولغمان په محاصره شوی ښارونو دپراخو او هراړخیزو عملیاتو اوحملو لپاره دچمتوالی په حال کې دي .
دغسی دهیواد له کوټ کوټ څخه پر دښمن باندی دمجاهدینو دبریالیو عملیاتو او ویاړمنو سوبوخبرونه یو په بل پسی رارسیږی.
دجهاد په پوځی ډګر کې دغه نوي تحرك اوجذبی زموږ مجاهد ملت ته داډاډ رابخښی چې دروسانو دمزدور رژیم دپایښت شپی او ورځی نوری مخ په ختمیدو دي اوهغه ورځ رانږدی ده چې دغه مزدور رژیم دلوی خدای (ج) په مرسته اونصرت دمجاهدینو دګډو اوهراړخیزو عملیاتو په نتیجه کې په بشپړه توګه رانسکور اوپرځای یې زموږ په هیواد کې یو اسلامی حکومت جوړشی .
ومن الله التوفیق

په تیرو دووکلونو کې په نیول شوي کشمیر کې (۱۸) زره مسلمانان شهیدان شویدي

نواي وقت ، داسد (۱۱) مه :
دحزب المجاهدین یوه ویاند ویلي دي چې دجون دمیاشتي تراخره پوري دتیرو شویو دووکالو په دوران کې په نیول شوي کشمیر کې دیرغلګرو هندي پوځیانو له لاسه (۱۸) زره کشمیري مسلمانان شهیدان شویدي اوله (۲۳) زرو څخه زیات په زندانونو کې بندیان دي په وژل شویو کې (۲۰) فیصده زاړه ، واړه اوښځي شاملي دي .
ویاند زیاتوي چې په سرحدي سیمو کې جنایات وروستي پړاو ته رسیدلي دي ځکه دکپواړي پنځه کیلو متره سرحدي ځمکې یې له زرګونو هندي پوځیانو څخه ډکې کړیدي ، چې دغه شمیره ددغه ځاي داصلي اوسیدونکو څخه اووه چنده زیاته ده له دغسي سیمې زیاتو وګړو دکشمیر نورو برخو ته له دغو داړمارانو له ویرې هجرت کړي ځکه پدغه سیمه کې په مسلمانو استوګنو دهندي پوځیانو شرمناکو ظلمونو بیانول دقلم دعفت له ځواك نه وتلي خبره ده .
ویاند زیاته کړه چې زموږ مقاومت به تراخري سلګیو پوري جاري وي دتیرو اوو میاشتو په دوران کې ډیر زیات هندي پوځیان له منځه تللي چې دغه کار دازادي تحریك ته نوره پیاوړتیا وربښلي ده .

حمله مجاهدین بر پوسته هاي ګرشك

هلمند ، میدیا :
یك منبع جهادی ازهلمند به میدیا ګزارش داد که مجاهدین به روز ۹ اسد بالای پوسته های امنیتی ولسوالی ګرشك ولایت هلمند حمله نمودند که درنتیجه دوپوسته حریق ګردیده هفت تن از ملیشه های رژیم کمونستی کابل هلاك و ۱۲ تن دیګر انها اسیر مجاهدین ګردیدند .
خبر می افزاید که درین حادثه ۹ میل کلاشینکوف ومقادیر زیاد مهمات وموادخوراکی به غنیمت مجاهدین درامده است .

دشیندنډ په ولسوالی کې د رژیم دری پوستی فتح شوی

فراه ، میدیا :
دفراه ولایت څخه میدیاته رپوټ ورکړل شوی چې مجاهدینو په ګډه داسد په ٤ مه نیټه دفراه ولایت دشینډنډ دهوایی ډګر په ٥ کیلومتری کې درژیم په امنیتی پوستو یو تعرضی برید وکړ چی په نتیجه کی ۳ پوستی نیولی شوی او ٤ تنه عسکر په اسارت ونیول شول رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو په دغه بریدکی ۲ عرادی ټانکونه او ٤ عرادی نظامی باروړونکی لاری اوپه پوستو کې موجود مهمات په ولجه نیولی دي .

ولسوالی های شغنان وواخان فتح ګردید

بدخشان ، میدیا :
مجاهدین ولایت بدخشان ولسوالی های شغنان وواخان درحاشیه شمال شرق کشورواقع درسرحد باچین وروسیه رابتاریخ ۹ اسد فتح نموده وقوای موجود در ان ولسوالی هابه مجاهدین تسلیم شدند.
طبق راپور رسده از ولایت مذکور تعداد زیادی ازملیشای شغنان که توسط پسر سید کیان اکمال می شدند درجریان پیشروی مجاهدین تسلیم شدند ومقادیر زیادی سلاح نیز به غنمیت مجاهدین درامد.
همچنان بافتح ولسوالی واخان که دربلندی های کوه پامیر موقعیت دارد قوای رژیم درساحه وسیع شمال شرق کشور تسلط خود راازدست داده ودرراه رفت وامد مجاهدین بین ولایات بدخشان ، تخاروچترال پاکستان تسهیلات زیادی فراهم شده است .ګذارش می ګوید سلاح های محرك وخطرناك که درارتفاعات واخان متمرکز بوده بدست مجاهدین افتاده .

دبګرام په هوایی ډګر کې یوه ډیپو تباه اویوعراده زرهپوش له منځه تللی

پروان - داسد ٥مه !
دقوماندانانو دشورا سیاسی دفتر دپروان له ولایت نه رپوټ ورکړی چې مجاهدینو د اسد په ٥مه نیټه ددرندوو سلو څخه په استفاده سره دبګرام دهوایی ډګر پر ځلوېښتمی پوځی قطعی او محافظ غنډ باندی برید وکړ چې دهغی په نتیجه کی دوسلویوه ډیپو داور لمبه شوی ۱۲تنه عسکر او ملیشه مړه یوشمیر ټپیان او هم یوه عراده زرهپوش ټانك له منځه تللی دی
همدارنګه دنوموړی خبر ځای دیوبل خبر له مخې مجاهدینو په همدی ورځ بګرام هوایی ډګر ته نژدی د (ګګر) په سیمه کی درژیم د ګارد خاص پر پوځی قرارګاه یولړ بریالی عملیات ترسره کړل چې په نتیجه کی دوه پوستی ویجاړی او ساتونکی یې له منځه وړل شویدی او دکابل رژیم دوه پوځی لاری او یوډی سی توپ هم له منځه تللی .
همدارنګه د «میډیا» درپوټ مطابق دپروان ولایت مجاهدینو په همدی نیټه دبګرام دهوایی ډګر پرامنیتی پوستو برید وکړ چې دوه امنیتی پوستی تخریب ۳ عرادی ټانکونه او ۳ عرادی موټر له منځه یوړل شول په رپوټ کی راغلی چی دعملیاتوپه ترڅ کی درژیم له افرادوڅخه ۱٥ کسه مړه او ۱۰ کسه نور ټپیان شوی دي .

د اسلامي کنفرانس . . .

دیاوني ورده چې دجمعیت اسلامي افغانستان دمشراستاد رباني په مشرۍ دمجاهدینو دموقت حکومت یوپنځه کسیز هیات هم پدې غونډه کې دګډون لپاره استانبول ته تللی دی .

.هیئت تحریر ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

یونیورسټي ټاون پیښور

تیلفون : ... ۸۱۲۲۵۱

دشرین تګاب اودولت اباد ولسوالیو کې لس کلي درژیم له کنترول څخه آزاد شول

فاریاب ، میډیا :
دفاریاب ولایت څخه میډیا ته رپوټ ورکړل شوی چې مجاهدینو دفاریاب ولایت دشرین تګاب ولسوالی په لویدیځه لس کیلومتری کی دشور بازار استانه بابا او لغمان په شمول درژیم دملیشه ؤ تر کنترول لاندی لس کلی داسد په ۸ نیټه تر یولسمی نیټی پوری دپرله پسی حملو په نتیجه کی آزادی کړی دری زره تنه ملیشه یی بندیان کړی او ۵۲۰ میله درنده اوسپکه وسله یی په ولجه نیولی دی .
رپوټ زیاتوی چې دجګړی په دوران کی ددوه ټانکونو او دری مخابری دستګاه دولجه کولو نه علاوه درژیم قواو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه اوښتی اوهم دری مجاهدین شهیدان او ٤ تنه نور ټپیان شوی دي .
دغه راز دفاریاب له ولایت څخه دیو بل خبرله مخی ویل شوی چی مجاهدینو دفاریاب ولایت په شمال دروسیی پولی ته نږدی دشرین تګاب ولسوالی په شمال ۵۰ کیلومتری کی ددولت اباد ولسوالی باندی درژیم په «۵۱۱» طوااودملیشه دغنډ په پوستو باندی داسد په ۷ مه نیټه تعرضی بریدونه پیل کړی چی په نتیجه کی درژیم قواو دسختی مرګ ژوبلی په زغملو علاوه دملیشه ۱۱۰ تنه مجاهدینودیو شمیر وسلو سره بندیان نیولی دي .

آمر تخنیك فرقه ۲۰ رژیم در ولایت بغلان با ٥ تن عسکر اسیر مجاهدین ګردید

بغلان - میدیا
یك منبع جهادی به میدیاګزارش دادکه مجاهدین با انجام عملیات بالای پوسته های ملیشه سید کیان در قریه خواجه زید ولسوالی دوشی ولایت بغلان ٥تن از ملیشه های سید کیان هلاك و «سوجاء» معاون کندك و امر تخنیك فرقه ۲۰ بغلان با ٥ تن از افراد ملیشه اسیر و ۹ میل سلاح خفیف نیز به غنیمت مجاهدین درامده است .
همچنان طبق یك خبر دیګر مجاهدین ولایت بغلان با ماین ها تبعیه شده خویش توانستند دوعراده تانك زرهپوش رژیم را تخریب و ۱۱ تن از افراد ملیشه را به هلاکت برسانند یك افسر نظامی با پنج تن از عساکر ویك جیپ روسی به مجاهدین پیوستند.

یك پوسته رژیم در ۲ کیلو متری مرکز کندز فتح شد

کندز میدیا:
یك منبع جهادی به میدیا ګزارش داد که مجاهدین ولایت کندز روز هفتم اسد بالای پوسته های چچګران ، وباغ زراعت در ۲ کیلومتری جنوب شرق مرکز کندز عملیات انجام دادند که درنتیجه ان یك پوسته فتح ګردیده (٥) تن ازملیشه ها هلاك و ۱٦ تن دیګراسیر مجاهدین شدند .
طبق راپور دومیل سلاح ثقیله (۱٥) میل کلاشینکوف ویك پایه مخابره (ار - ۱۰٥) به غنیمت ګرفته شده است ، خبرحاکیست که عملیات مجاهدین برپوسته های مذکور هنوزهم ادامه دارد .

اسلامي هیوادونه باید دهند پرخلاف اقتصادي بندیزونه ولګوي

اسلام اباد ، داسد ۱٥ مه :
دموتمر عالم اسلامي سازمان په خپله یوه مطبوعاتي اعلامیه کې داسلامي ملکونو له سازمان څخه غوښتنه کړي ترڅو په نیول شوي کشمیر کې دهند نظالمانه اووحشیانه اعمالو پرضد داحتجاج په توګه باید په هند باندي اقتصادي بندیزونه ولګول شي .
همدارنګه دغه سازمان غوښتنه کړي ترڅو دملګرو ملتو سازمان دامنیت شوراته ووېل شي چې په کشمیر کې دهند دزور زیاتي دمخنیوي لپاره مناسب اومرستندوي اقدامات وکړي

دهلمند ولایت مجاهدینو دلشکرګاه پر امنیتی پوستوبرید وکړ

په کویټه کی دمیډیا نمایندګی دهلمند له ولایت نه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو داسد په ٥ مه نیټه دهلمند ولایت مرکز دلشکرګاه دښار پر امنیتی پوستو او پوځی مرکزونو ددرنو وسلو ډزی وکړی چی دهغه په اثر دکابل رژیم ۱۷ تنه عسکراوملیشه مړه او ۸ تنه نور ټپیان شوی دي .
رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جګړه کی درژیم دملیشه قواو دیو کنډك دقوماندانی ودانۍ دهاوان له یو سنګر سره له منځه وړیدي .
همدارنګه دهلمند ولایت څخه دیوه بل رپوټ له مخی مجاهدینو تردي برید یوه ورځ دمخه دهلمند ولایت دګرشك په ولسوالی کی درژیم په قواو باندی په یوه تعرضی برید کی ٥ عرادی نظامی موټر داور لمبه کړیدی.